


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رحمت ډالۍ

د لنډو کیسو ټولګه

لیکوال :

رحمت الله رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي .**

# د کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: درحمت ډالۍ (د لنډو کیسو ټولګه)

لیکوال: رحمت الله ،رحمت

دچاپ کال: ۱۳۸۳ه ش/۲۰۰۴م دچاپ شمیر۵۰۰

د لیکوال تلیفون: ۰۳۱۳۸۴۷۰۷۲۵/۰۳۴۵۸۸۷۳۲۹۹

د لیکوال برېښنالیک : Rahmatcmn@yahoo.com

انلاین چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


۱:ورینداري ته وایه موږ وبخښه

۲:د خوشحالۍ ورځ یې په غم بله کړه

۳:یوستا وروړتورک وو

۴:چي په ژوند میراث سول

۵:د خندا اوتعجب خبري دي

۶:اوس به دنړي اتل ستا سي ګوتڼونه پالش کوي

۷:اوآخیري سلګۍ یې دي

۸:بس ټلیفون کښیږدي

۹:خدای دي وبخښه

۱۰:چي فکراوسوچ پکاردي

۱۱:اوداغریبه مړه سوه

۱۲: بیابه بد نه کوم

۱۳:احتیاط کوه

۱۴:بیا په مسافري کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وربنداري ته وايه موږ وبخښه

زحمتونه يې ګالل دهر چا خبري يې زغملې هرڅه به يې پرځان وړل خو چا يې هيڅ فرياد نه واورېدى. پرځوانۍ كونډه سوه دواده دوهم كال يې وچي خاوند "تورګل" يې دموټر دجنګېدو په پېښه كي مړ سو. دخاوند تربرو به هركله چخني او كړې خبري ورته كولې او هر يوه به جلا – جلا په زړه كي ګوري ورته ماتولې ، شاپېرۍ به يوائي داورته ويل: تاسي خو لږصبر وكړئ چي زما "عيده" خو تېره سي.لنګه غوا ، داخترپسه او خو تلتكه چي ول هغه خو موراڅخه يووړل.

څو ورځي لا نه وې تېري سوي چي شاپېرۍ وګل بختي ته كوچنى ورولېږى چي خاله ته وايه يوار خو راسه.

" ګل بخته خاله چي هم يوه خورا خواخوږې ښځه وه او په توره شپه به دهر چار كره تلله. هرچا به له ميني خاله بلله ، سمدستي ځان په يوه سا را ورساوه ":

څپلۍ (ګوتونه ) يې لانه وې ايستلي چي پرشاپېرۍ يې ږغ وكړ: ولي خاله دي جارسم ولي داسي راتاوېږې څه درسوي دي ؟

وختي دي ولي حال نه رالېږئ چي داسي په عذاب يې زه نوكوم نه وم درمعلومه چي په توره شپه دهرچا خدمت كوم ، بيا نوستا .

شاپېرۍ چي درد ډېره په عذابه كړې وه په ډېر تكليف يې ورته وكتل او په ګانګوړاواز يې ورته وويل: ما ويل مه مي ښوره چي هسي مړه شم او څوک نه شي را خبر. بيا يې پر ډېډيو لاسونه ونيول او دېوال ته يې سرتكيه كړ او له ډېره درده يې غاښونه پرله ونيول بيا يې په ژړه غوندي ( ژړغوني ) اواز وويل: خاله څه درته ووايم شكايت او بې صبري هم نه ده ښه پرداسي ځوانۍ كونډه شوم چي زما او تورګل ځوانيمرګ ارمان نه سره وخوت ، نصيب ډېر ژر راڅخه مرور شو . اوس مي دده ترمرګ وروسته دده تربرونه لكه لېوان مځكي ته نه پرېږدي ، خاله زه به نو څه درته ووايم ته نو كوم نه يې راخبره زما دژوند نو كوم ځاى دخوشحالۍ دى، بيا مي هم داسلا وكړه چي خاله ته حال ولېږه اوس كه ژوند وي او كه مرګ خاله خو به درته ناسته وي ، "ګل بخته " خاله چي هم ډېره تجربه لرونكې مېرمن وه او دشاپېرۍ له حاله خبرېدو سره سم يې دكوچني دپيداكېدو شيان په غوټه كي ورسره راوړي وو او خاله هم لاس په كاروه ، لږګړۍ وروسته چي شاپېرۍ ساسمه كړه او د كوچني آواز يې پرغوږ ولګېدى ، دګل بختي خاله هم ښېره له خوشحالۍ ډكه وه ، او پرشاپېرۍ يې ږغ كړه: زويه مبارک دي شه ، هلک دى خداى ﷻ دي يې درصالح كړي ، خداى ﷻ دي ارمان په وكاږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاپېرۍ چي د خوشحالۍ څخه سترګي له اوښکو ډکي وې وويل: خاله خدای ﷻ دي بې زويه مه کړه ، خدای ﷻ دي د بل له محتاجۍ وساته.

" خاله چي ټوله شپه په ولاړه تېره کړې وه دغسي په ولاړو پښو کور ته ولاړه ، مشرزوی چي يې اودس تازه کړی واو جومات ته تلی هغه ته يې وويل: نصرو زويه پرتاهم ناوخته کيږي نوري خبري به وروسته کوو ، په جومات کي به ملاصاحب او ميردل اکا د " تورګل مسکين " دزوی په زوکړه خبر کړې ، چي ودغو لېوانو ته څه نصيحت وکړي ، نن سهار دملاصاحب قرائت څه بل شاني و ، هرسړی پوهېدی چي څه پېښه سوې ده ، دسلام له ګرزېدو سره سم ، ميردل اکا و خلګو ته وويل : ټول کښېنئ نن ملاصاحب څه خبري درته کوي.

هر سړي دنوي خبري د اورېدو لپاره پرخپل ځای انتظار کاوه دغه وخت ملا صاحب ښو توندو خبرو ته ځان جوړ کړی و ، دڅو مبارکو آيتوترويلو وروسته يې دکلي پرملک مخ راواړاوه ، ته چي دکونډي او يتيم غم ونه کړې څوک به يې کوي ؟

زموږ دکلي دغه مسلماني ده ، چي موږ ورته ګورو ، دتورګل مسکين له کوره يې تربرو " رازکی " او " ښامير " لنګه غوا داختر پسه او دکور لوښي په سپينه ورځ يووړل او دهغه کونډه يې په لندو سترګو پرېښوده. دالا څه نور ګواښونه هم ورته کوي ، مګر خدای ﷻ بيا داسي نه کوي هغه دی برايي ( تېر ماښام ) دغه مېنه زرغونه شوه او دتور ګل مسکين زوی پيدا سو.

دکلي ملک موسی اکا چي په دغو خبرو خپل ځان او کليوال ملامت بلل سر يې راپورته کړ او شا وخوا يې وکتل دکلي پرڅو ځوانانو يې ږغ وکړ، ورسئ ددغو لېوانو له کوره څخه دغه څه چي يې وړي دي بيرته دغي کونډي ته وروړئ.

ميردل اکا لنګوټه پرسرسمه کړه سترګي يې په شمله وچي کړې او دتور ګل مسکين په دروازه کي يې دغه پيسې ګل بختي خاله ته ورکړې او دايې ورته وويل: ورېنداري ته ووايه موږ وبخښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخوشحالۍ ورځ يې په غم بدله کړه

ژوند ټول په خوارۍ او غربيۍ ورباندي تېر سو ، ټول عمر د بل همسايه و ، ښه راستمن سړی و ، يو وزری و ، يوه يې نه دوې کېدې هغه دچا خبره ديوه لاسه ټک نه خيژي دوه درې بچي يې لا دمخه مړه سوي وو ، اوس يې داوروستی زوی "ګلاب" ځوانۍ ته نيژدې سوی ولاس يې په سپک و.

دادمحمد اکا به هر وخت نصيحت ورته کاوه زويه دبې ځايه کاروا و بې سره همځولو څخه ځان ګوره خدای ﷻ مه کړه چي يوه بده راته پېښه نه سي وايم دبدو خلګو څخه همېشه بد پېښېږي ، ماددې کلي دهر سړي خدمت کړی دی په توره شپه مي يا نه ده ورته کړې. وايم خپل وس مي نه دی ځني سپمولی ته به خپلو کاروته پام کوې اوبله خبره داده چي ستا لپاره مي يو کار په نيت کي دی بيا به يې درته ووايم.

ګلاب هم ډېر ځيرک زلمی و ، سهار وختي به يې دملا صاحب څخه سبق واخيستی بيا به نو ټوله ورځ دپلار سره دمځکي په کار واخته و. په ټول کلي کي يې ښه نوم درلودی مازديګر يې همځولي "زرين "ګيله ځني وکړه: داڅنګه انډيوالي ده چي زه دي نه يم خبر کړی او ټول کلی خبر دی. چي پلار دي "زرلښته "درغواړي ګلاب چي پر هوا رپېدو څنګ وهلي و راپورته سو او ويې ويل: ښه ته هم خبر سوی يې ياره زه شرمېدم نه مي شوای درته ويلای زه هم برا يې ماښام خبر سوم پرون دورځي مي پلاريوه خبره راته کړې وه خو سرمي نه و په خلاص.

ماښام چي مي پلار مورته داقصه کوله نو زه هم پوه شوم ، چي پلار مي ولي دڅه مودې څخه پرځان تنګي راوستلې وه.

نور خو پرېږده زموږ دخوراک غنم او دلاندي پسه يې لا خرڅ کړ.بس دمسکين همدا ژوند دی چي دکوزدې او واده لپاره به دغاړي کالي خرڅوي دمړو او سرمايه دارو خلګو په ودو او ښاديو کي څنګه هشت ومشُت وي څنګه ټکان او اتڼونه وي.

"زرين "چي داډيوال ګلاب خبرو وسو هيڅ جواب ورسره نه و ، صرف دومره يې ورته وويل چي: دټکانو لپاره خو ما دادی ډکه توپنچه رااخيستې ده چي صبا دي دسملان راوړل کيږي ټکان به په وکړو او يو څه دجېب خرڅه مي هم درله برابره کړې ده دغه مي په وس و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب که له یوې خوا سبا د خپلې کوزدې خوشحالي لرله خو د بلې خوا دې ته حیران و ،چې په تش لاس په دغه دولور غاړه څنګه باسي او څنګه به یې اداکوي په دغو چورتو او فکرو کي خوشحالي ځني هېره وه پتو یې ټک واهه زرین ته یې وویل:

ستا یې کور ودان مګر په دې سرنه سره رسیږي سبا به ټوله ورځ راسره تېروې اوس ناوخته دی کور ته به ځوک راته ګوري.

سهار چي دڅلورو کسانو مرکې دګلاب دکوزدې دسملان راورسول ، زرین تو پنچه په لاس د ټکانو وار ته انتظار و ، یو ناڅاپه ګوته دماشې سره ولګېده او ټک سو مخامخ ګولۍ دګلاب پر زړه ولګېده او دګلاب پرمځکه راچپه سو نارې او چغې سوې چي ګلاب مړ شو ، خلګ سره راورسېدل ګوري چي ګلاب لکه داختر پسه په خپلو وینو کي سور پروت دی او آخري ساه یې خیژي. ښادي په غم بدله سوه بس دمسکین دکور خوشحالي وه لړ ګړۍ وه دخلګو سترګي له اوښکو ډکي سوې او دایې ویل: دادمحمد اکا ته دي خدای ﷻ دزړه صبر ورکړي دغه یو زوی یې وهغه هم دمرګ په کار شو بیا پرداسي ځواني او دکوزدې په ورځ بس هغه دچا خبره"د خدای ﷻ دوستان ډېرزهېریږي " ګلاب مسکین چي یې خاورو ته وسپاری ، تردعا ګویي وروسته دکلي یو سپین ږیری لعل محمد اکا خلګو ته وویل: واورئ خلګو بیا که دچا زوی پیداشي یا کوزده یا واده وي بیا به دغه دغم ټکان نه کوئ ومولیدل چي دخوشحالۍ ورځ یې په غم بدله کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يو ستا ورور تورک و

خدای ﷻ سته ښه وروړګلوي يې ده ، يو دبل په خوله دي او مشر ورور نعمت لالا ته خو بيا ټول لاس په نامه ولاړ وي ښادي اکا چي دحجرې دېوال ته ډډه وهلې وه او دنسوارو په هينداره کي يې مخ ته کتل پر جانو اکا ږغ وکړ ، ددغو هلکانو پلا ښه سړی و چي دوی دغسي صالح او دخپلي لاري دي ، مګر پلار يې نو اوسا (هوسا ) ورځ ونه ليده دوی لاښه دي خواری به پرتېري سوې ، خو اوس يې ژوند ښه دی ، څه مځکه ، يوه غوا ، اووه اته پُسونه لري.

صوفي صالح چي ددوی خبرو ته غوږ وو او پر مځکه يې ليکي کښلې زياته کړه: خلکو تاسي لکه چي نور حال نه په لرئ ؟

نوري خبري خو سهي دي خو يوه ستړيا ورته ګوري جانو اکا خبره ورغبرګه کړه ، کومه ستړيا چي ته په خبريې او موږ نه يو خبر سم مو په خبره سر راخلاص کړه ! صوفي صالح وويل: ستړيا خو داده چي دغه کشر هلک يې ډېر بې لاري سوی دی په دغه حال کي نعمت لالا هم سلام وواېه خلکو ستړي مسيا ورته وويل صوفي صالح زياته کړه ښه شو چي نعمت هم راورسېدی ماويل: زه به دی هم په خبروم وايم دچرګانو دغلا څخه نيولې په هره بده پېښه کي دده لاس وي.

صوفي صالح لاخبره نه وه خلاصه کړې چي جماعت ودرېدی ترلمانځه وروسته چي نعمت لالا کور ته ولاړی ډېر زهېر و ، دمځکي په شان يې خوله له خندا نه وه ډکه ، دوهم ورور " پيدا ګل " پوښتنه ځني وکړه لالا ناجوړه خو به نه يې ؟

نعمت وويل: يا ناجوړه نه يم خو ترد ې وروسته به ناجوړه سو پيدا ګل وويل: لالا نه شوم پوه چي څنګه به له دې وروسته ناجوړه شو ؟

نعمت وويل: ستا په ياد دي چي ما به هر کله و تورک ته نصيحت يا منت کاوه مور به راڅخه خوابدې شوه ويل به يې دازما کشر زوی دی ، ته منتونه پرکوې او دې به بې ځايه نازاوه ، زه پوهېدم چي دغه نازونه به يوه ورځ راته غمونه شي ، مځکي هم زه څه غوږېدلی وم ، چي ځای بې ځايه سم نه ګرځي ، ماښام به ناوخته کور ته راتلی کله کله به دغه د " ګولک" چرسي پرکوټه هم يادېدی خودمور دلاسه مي هېڅ نه شوای ورته ويلای ، ورمه ورځ ستا په ياد دي چي ما نصيحت ورته کاوه ده څنګه جوابونه راکول ، تاوليدل مور پر مامنت کاوه او پر ده يې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا ګل یو سوړ اسوېلی وکېښ او ویې وویل: لالا په هغه ورځ مې ډېر زړه دربانديو وسو ، دده جوابونه پرمادا سي لګېدل لکه چړې چې را پکښې وهي ، که د خلګو خندا او دمور ژړا نه وای زه به یې هم په هغه ورځ خوښ شوی وای مور چې یې هم و دغو خبرو ته غوږ نیولی و او دا خبرې ښې نه پرلګېدې وویل:

څه یې کړي دي چې ټول ورته بلا شوي یاست ” په ژړه غوني اواز یې وویل: ستاسي دلاسه نه دچا سره کښېنستای شي نه ولاړېدای شي کشر دی سم به شي نعمت وویل: هو ! له دې وروسته به ښه سم شي ، که پرخاندې او که پر ژاړې ، داکور به خراب شي ، نن دکلي په مینځ کي خلګو دغه خبري کولې او دده بدي پېښي او غلاوي یې حسابلې ، درازو دپالیز ، دخان دباغ او د شاګل دپسوپه دغو ټولو غلاوو کي خلګو د ییاداوه ، نعمت چې ډېري ترخې خبري پرځان وړي وې ورور که یې بې لاري و ، خو بیا هم دده ورور و په هره بده یې خوابدی و او دمرګ خبره یې نوره نه شوه پټولای ، زنو یې بلګ شروع کړی ، سترګي یې له اوښکو ډکي شوې ځان یې دغه دغم وخبري ته نه جوړېدی ، خو بیا هم مجبوره و او ویې ویل: آخیري خبره داده چې اوس په لاره کي سدوزی لالا راباندي پېښ شو چې له بازاره راغلی و اوویل یې: دلاري دنیوو په پېښه کي دوه غله مړه او یو زخمي و ، ما دتور پله سره ولیدل ، یو ستا ورور تورک و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چي په ژوند ميراث شول

نور محمد لالا ډېر خواخوږی سړی و ، دهرچا په غم او ښادۍ یې ځان خبراوه ، ترخپله وسه یې دناتوانه اوبې وسو خلګو مرسته او کومک هم کاوه.

په دغه خپله خواخوږي سره هرچا په ښه نامه یاداوه بس دهرچا غم ورسره و ، کله کله چي به څه بده پېښه یا ظلم شوی و نو اول به یې اثر دده پرمخ معلومېدی ، کله کله به دغو بې انصافیو او ناجایزه پېښو داسي زور پر وکړی چي ویل به یې راځئ له دې ښاره کډې بار کړو نه انسانیت شته او نه دانسان قدر هغه بله ورځ یې لالو اکا ته وویل: ته هره ورځ راته وایې صبر کوه دابه سړی څنګه وکړي ، لالو اکا خبره ورغبرګه کړه : بیا چا ګلان کرل چي مځکه یې ستا پرطبیعت نه وه ماته کړې ، نور محمد چي پېښې ډېر زهېر کړی و په لاس یې دتندي خوله وچه کړه ، دمنګي اوبه یې پرسرپورته کړې ، خبره ته حیران و چي له کومه یې شروع کړي خو آخیر یې وویل: لالو اکا څه درته ووایم: ته لکه چي نه څه اورې او نه څه وینې ، دلته څوک شته چي ګلان وکري یا دګلانو کار کړي ؟

دلته خو خلک اڅغي کري اڅغي.

لالو وویل: وروره زه خبر یم چي دغه حال دی چي هیڅوک ګلان نه کري .زما خپله په پښو کي ډېر اڅغي مات شول چي لامي دګلانو پرخوا ډېر زور دی ، څه وکړم له وسه مو څه کیږي ، څوک به مو ناره واوري ، وایم ښار ناپرسان دی بس یو ګوزاره به کوو ، ښه ته ووایه ، چي بیا دي څه اوربدلي دي چي داسي دي زړه درته ډک دی.

نور محمد وویل: هرڅه مو اوربدل خو دژوند دمیراث مو نه و اوربدلي. هغه بله ورځ دلاندي کلي څخه راتلم چي په لاره کي مي یو سړی ترنظر شو ، ډېر مي حیران – حیران ورته کتل نه پوهېدم ، چي مسافر دی او که لېونی ، خواره واره وېښتان، رنګ یې تک ژېړ و ، دمخ ښه الوتې ، حال یې ډېر خراب و په دغه چورت کي ورنژدې شوم سړی روغ راته ښکاره شو ، ترسلام د مخه یې ترلمن ټینګ کړم او راته ویل یې کښېنه ولي داسي په چورت کي راته ورک شوې ؟

دده سختي ورځي له ماڅه هم دسلام وراچولو وار خطاکړ، خو سلام مي ورته ووایه. دده په جواب مي سره نه شو خلاص ، ددوبي سره غرمه وه دکور پرخوا مي هم تلوار و، خوبس ورسره کښېنستم لږ ساعت وروسته مي سړی وپېژاندی چي سد و ګل دی دپلاني....... دکاله ، ښه دپلار او نیکه سړی و ، ورته ومي ویل: څه درپېښ شوي دي ؟ ته او داحال دی ؟ لږ ګړی خاموشه او پټه خوله و ، اوښکي یې پر مځکه وڅڅېدې زماهم سترګي ورسره لندې شوې ، خدای ﷻ ﷻ شته دغریب پرحال مي ډېرزړه وسو ، ما هم په خبرو کي خپل نوم وریاد کړی ، دده به هم نه وهېر ، تاواوربدل لالو اکا : هو ما واوربدل نوره قصه راته کوه نور محمد وویل: بیا نو سدو ګل راته وویل نور محمد لالا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ورغ تيريږي تياره زياتيږي. له کومه سره يې درته بيان کړم تاته ښه درمعلومه وه چي هيڅا ته مي تاوان نه دی وررسولی او نه دچا په تاوان خوشحاله وم ، ښه ماجت (مسجد) ، ښه مېنه ، دمېلمه کوټه ، دوه باغه ، دپالېز او کښت مځکه ، دوې باوړۍ ، وايم ښه ژوند مي درلودی خو د خدای ﷻ کارونه دي خدای ﷻ ښه په پوهېږي چي نن بيا پر دې حال يم.

نور محمد ما ورته وويل: بې شکه دادخدای ﷻ کارونه دي چي داسي کيږي وايم چي درپېښ شول چي دې حال ته راورسېدې؟ زه سم په حال نه يم خبر.

سدوګل وويل: نورک لالا څه به دي سرپرله ګرزوم "جاندو" خوښه پېژني چي زما تربور دی چي زه خدای ﷻ په ښه باد وهلی يم ، له هغه وخته يې راسره اخيستې ده او تر ننه يې سم قدم نه دی راسره ايښی ، په حکومت يې بندي کړم يم ، ځو ځايه مځکه يې راڅخه لاندي کړې ده ، هيڅ مي په وسه نه ورسره کيږي راباندي زورور دی او نه بل چا ږغ ورته کړی دی. چي ولي ظالمه: داظلم کوي ، وايم دغه کال په کال چي کاختی دي ، بارانونه نه کيږي ، برکتونه ټول شول ، خوشحالي نه شته وايم داخو ټول زموږ عملونه دي تاواورېدل نور محمد لالا ، نور محمد : هو ما واورېدل وايم په دې کي خو هيڅ شک نه شته چي موږ دزورور ملګري يو او ظالم ته مو په ظالم نه دي ويلي.

ښه ته قصه کوه:

سدوګل وويل: وايم هغه ډېر ظلمونه راسره وکړل ، دوه کاله مخکي يې ځوان زوی داسي راوواهه چي له هغو وهلو مړ شو ، چامي ناره وانه ورېده. دحکومت خلګو ته يې پيسې ورکړې ويل يې داغل وموږ مړ کړی.

ترهغه دمخه يې يو ه لور راڅخه وتښتوله ، ګوره چي مړه يې کړه کعه يې پريو چا خرڅه کړه ، توري مځکي مي پسي سپيني کړې پروطنو – وطنو وګرځېد م هيڅ درک مي يې پيدا نه کړی ، بس نو يوزه اويوه کوروالا سره پاته شوو او داغمونه". په دغه حال کي سدوګل سرکښته وځړاوه او څه اوښکي يې پر مځکه وڅڅولې ، لږ ساعت وروسته يې سر راپورته کړی او داسي يې وويل: شپږ مياشتي مخکي يې عرض راباندي وکړی ، ويل يې تازموږ درمې سپی وژلی دی ، بس دحکومت سړي راغله او زه يې لاس تړلی په بند کي واچولم. دپوښتني ځوک مي نه و زما دځوان زوی غورچا ونه کړ، مګر دظالمانو او زورورو چي سپی په خپل مرګ مړ شي لا يې هم پوښتنه کيږي او ما غوندي غريبان يې په تور بند ته اچول کيږي.

وايم څه درته ووايم: زړه مي له تورو وينو ډک دی" خدای ﷻ پاک مو دي له دې ظالمانو خلاص کړي ، بس په دغه بند (زندان) کي يې اچولی وم ، چي تاڅنګه زموږ سپی وژلی دی ، هلته مي تر شا په کور والا (مېرمني) پسي زړه ختلی و ، چي پر هغې خوارکۍ به څه تيريږي. هغه هم دغو غمو لېونۍ کړې وه ، يو وار دوه مي حال په وشو چي کله –کله دکلي يوې سپين سري يوه ګوله ډوډۍ ورته راوړې ده يا يې داوبو لوښي ورسره ډک کړي وو ، خو آخير –آخير

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسدوګل ستونی له ژړا ډک شو ، زني يې وبلګېدې ، له سترګو يې اوښکې کښته وڅڅېدې ، زما هم سترګې ورسره لندې شوې زړه مي راته وويل: چي مخ پرغره ونيسم يا يوه تېره چاړه پيدا کړم او په د غو ظالمانو پسي يې را واخلم ، چي پېژني يې وژنه يې ، خوله وسه مي هيڅ نه وه پوره بې له افسوسه ، لږ ګړۍ وروسته ما ورته وويل: سدوګل لالا بس خدای ﷻ ته به صبر کوو ، نو آخير څنګه شو ؟ سدوګل سترګې په لستوڼي وچې کړې او داسي يې وويل: هونور محمد لالا خدای ﷻ دي وکړي چي له دغو ظالمانو څخه خلاص شو ، نو آخير داسي وشو چي يوه شپه مي مېرمن په اوبو پسي راوتلې وه ، چي څښناک يا اودس څه اوبه راوړي ، پام يې نه شته دباوړۍ و څاه ته ايله شوه ، دوې ورځي وروسته خلګو راکښلې وه ، بيا خو نو دمسکين کور دی چي دسپين کفن وس نه لري ، دکلي سپين سرو په هغو کاليو او پوړني کي ورته کفن ورکاوه ، چي د کلي څو ځوانانو په دغه وخت کي دکفن ټوکر ورته راوړی او ويل يې: دغه يې ورکفن کړی ، دغو ځوانانو داهم وويل: نور نو مورږ دغه ظلمونه نه شو زغملای، مورږ به نور دجاندو رنګه ظالمانو نسونه ورڅېرو او دسدوګل غوندي غريبو خلګو پرڅنګ به درېږو او غور به يې کوو، بس دغوځوانانو حاجي مدو اکا چي ښه مشر سړی د ی، حق نه پېژني دځان ملګری کړی و او راغلل زه يې دبنده څخه خلاص کړم ، کلي ته ولاړم څوک پاتا (فاتحې) ته نه دي راغلي ، ولي بې وسه سړی وم له بې وسه خلګو سره څوک غمرازي کوي ؟

شپه دوې مي هلته تېري کړې ، ديوازيتوب ژوند و که ديوې خوا د " جاندو " څخه مي دمرګ بېره وه ، خو هغه ما له خدای ﷻ راوستلې وه ، دبلې خوا بې کسي اونېستي وه لاره راڅخه ورکه وه چي څه وکړم هسي خو " جاندو" په ژوند ميراث کړی وم ، بس دغه لوښي او توري (کالي) مي په موټر کي راواچول ، موټروان ته مي يو دېګ او جوال په کرايه کي ورکړی، نغدي خوما نه درلودې اودلته يې راورسولم ، اوس که دي خوښه وي زما جايداد به ستا په نوم تاته درکړم وايم چي دغه ظالم يې خوري نو يې ستا .

نورک وويل : زه چي کيسې ډېر سوځلی وم دغسي بې اختياره ځيني راولاړشوم او دغه دی تراوسه مي سر پرله ګرځي.

لالو اکا اوس يې نوګلان بولې ، که اغځي زمورږ دخلګو دغه حال دی ، چي په ژوند ميراث شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخندا او تعجب خبري دي

ډېر خلګ راغلي وو ، دعلاقې خانان ، ملکان ، دوکانداران او څه غریب خلګ او دحکومت چارواکي هر چا په زړه کي یو څه جوړه کړې وه چا فکر کاوه چي دلته به مي څوک وپېژني چا ویل ، چي حکومت به څه راکړي یا به څه محصول او غم راباندي کم کړي ولي چي دادترقۍ او پرمختګ لپاره مجلس او غونډه ده.

خیرهر سړی دخپل فکر نیلی ښه پرځغلولی و " که له یوې خوا ګرمي وه خوله بلي خوا نه اوبه و ې، نه داوبو خدمت ګار. څو دښېر بتو جېکونه وو هغه هم صرف دمعززینو مخ ته پراته وو ، دچوکیو هم دغه حال و ، درانه او سرمایه دارخلګ پرچوکیو او غریب خلګ پرمځکه ناست وو ، ډېري خبري وشوې خو هرچا داکوښښ کاوه چي داسي خبره ونه کړي چي دحکومتي چارواکو بانه درانه اوخوابده شي ، چا دامن او کرارۍ صفت کاوه ، چا دترقۍ کارونه ستایل ، ملک نصرو ، چي له حکومته یې ډېر څه وړي وو ، څو کاله یې مالیه (ټیکس) هم نه و ورکړی اوڅه نور جرمونه یې هم کړي وو ، دحکومت او حاکم صاحب ډېر صفتونه وکړل.

حاجي شاګل وویل: دانوی حاکم چي راغلی دی دا د لوی او لوړ خاندان سړی دی ،هغه بل کال زه ددوی کور ته ورغلی وم دده له پلار سره شل کسه غله او بدماشان (بدمعاشان) په کوټه کي ناست وو ، خلګو وویل: داکور هیڅکله له مېلمنو نه دی خالي شوی ، دوست محمد اکا چي ښه خواخوږی سړی و هم دلته ناست و داټولي خبري داسي پرلګېدې لکه دمار زهر ، خوبده داورېښه وه چي سرمایه دار نه و ، په دې وخت کي دغونډې دمطلب او مقصد په باره کي لیکل شوي کاغذونه پردېوالو ولګول شول. چا – چا ته هم دانه مانه ورکړل شو او یوه حکومتي افسر دغونډې مقاصد هم بیان کړل ، دغه وخت چي دچا په دغو خبرو سر خلاصېدی په هغوی سرونه کښته وځړېدل ، نه پوهېدل چي څه وکړي او ځنګه رشتیا وواېي او دغه خبري ردي کړي.

" په دې حال کي حاجي نذر ګل اکا لنګوټه پرسرسمه کړه ، پټو یې پراوږو واچاوه دغسي دخبرو ځای ته بې واره راولاړ شو خلګو ټولو یو بل ته سره وکتل او دایې سره وویل: اوس یې ګوره ما نه درته ویل ، چي حاجي صاحب دپلار اونیکه څخه خان دی ، دقام دینداره مشر دی ، هر وخت یې دولس غم خوړلی دی ، دظالمانو څخه نه بېرېږي او نه دغلو ملګری دی اوس یې ګوره ! حاجي نذر ګل اکا په دغه وخت کي په خبرو پیل وکړ،

واورئ خلګو دغه څه چي تاسي واورېدل داصرف خطاایستل دي اولېوه په خړسپي تېرول دي.

موږ نور دغه لېوان دخړ سپي په نوم په رمه کي نه پرېږدو ، چي دمېږو نسونه ورخیري کړي. پرموږ یې لکه چي دحیوانانو فکر کړی دی که څه ؟ امنیت چېري و په سپینه ورځ غلو لاس اچولی دی ، شپه خو لا څه کو ې، هره ورځ چي اورې یوه دوې غلاوي شوي وي ، دالا څه کوې ، هغه بله ورځ یې په هغه لاندي کلي کي ځنګه ښه ځوان ویشتلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



و ، سړی ماښام خپل کور ته زړور نه شي ورتلای ، د شپې چې سخت مریض پېښ شي هغه بله مري یا به یې خلک د سر په سودا ترډاکټره رسوي ، دااوس امنیت دی دې ته تاسي امنیت وایاست ؟

ولي حکومت او مشران دغه شپږ کسه غله نه نیسي او سزا نه ورکوي ؟ دغه بې کاري خوټوله دغه زورور جوړه کړې ده ، ولي رشتیا نه سره وایو ؟ داسي معلومیږي چې ددې نوي حاکم سره نور غله ډېر شوي دي ، موږ له حکومته غواړو چې داحاکم لېري کړي او هغه بل پخوانی حاکم موږ ته راولي ، هغه حاکم ښه سړی و ، هغه په هر کال کي عدل کاوه هغه د خان او غریب فرق نه کاوه ، " په دې حال کي ډېرو خبرو او جذبې دحاجي صاحب په خوله کي ناړي وچې کړې ، سفر محمد دغه وخت یو ګلاس اوبه ورکړې ، ها حاجي صاحب یو وار دایو غوړپ اوبه وڅیښنه تر ژبه دي جارشم ، رشتیا چې ایمانداره مشر یې ، وایم تا دي خدای ﷻ پاک زموږ له مینځه څو ورځي نه باسي ته خو د پلار اونیکه سړی یې ".

حاجي نذرګل اکا تراوبو څښلو وروسته وویل : دحکومت سړو داوویل ، چې موږ به درایت یا عوامو څخه دا... دادغم د محصو ل( ټیکس ) په نامه اخلو او دوه کلي مو په دې درونړول چې هلته به یو پارک دساعت تېري لپاره جوړ کړو ، یو کلی او څو دوکانونه لا نور هم درنړوو ، زه وایم چې حکومت داسي دی لکه ورور او رعیت یا عوام داسي دی ، لکه بل ورور نو زما په فکر ورور ته نه ښایي چې دورور کور ورونړوي.

کاکا زموږ خلګ دماښام ډوډی نه لري ، دی موکورونه رانړوي او دساعت تېري میدان راته جوړوي. دغه ته حکومت ترقي وایي ؟ دخندا او تعجب خبري دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوس به دنړۍ اتل ستاسي ګوتږونه پالش کوي

توروېښتان، ښې غټې سترګي ، دګلاب په شان مخ ، کړه وړه يې ښه پرله برابر وو ، داسي معلومېدی لکه له يوې ښې درنې کورنۍ څخه چي وي ، مګر لباس يې داوخت نه وپرله پوري . خيرن او غوړ کالي ځای پرځای پينې هم باندې معلومېدې ، لکه دبل جامې(کالي) چي يې اغوستي وي ، پرتن يې برابري هم نه ښکارېدې ، دوکاندار ورته وووېل:

ولي سبق نه وايې چي داکار کوې ، ګلزار چي په کار بوخت ووويل: ښه دی کاکا جانه وبه يې وايم. دوکاندار ورته وويل: کله به يې ووايې ؟ګلزار وويل: چي مړ شم بيا به نو ډېر سبق ووايم: دوکاندار وويل: څنګه چي مړ شې بيا به نو ډېر سبق ووايې.

"ګلزار چي ددوکاندار يو ګوتې (بوټ) پالش کړی و اوبل پاته وپرمخ راغلي خولې يې لکه پرګل دشبنم څاڅکي دلاس په چپه خواپاکي کړې او دوکاندار ته يې وويل: زه مجرم يم ، زه بايد اول ووژل شم.

دوکاندار چي يو لاس يې په سودا اخته و او فکر يې دهلک په وناولده خبروکي و او حيران و ، ويې وويل: ښه هلکه ته سمه خبره وکړه ته څنګه مجرم يې او تا څه جرم کړی دی ؟

په دې کوچنيوالي کي خو زموږ کوچنيان هيڅ جرم نه شي کولای ، سها روخت ناری( ناشته ) وکړي ، شيدې ، هګۍ او څه نور شيان ورسره وخوري ، سرپه هنداره کي غوړ او برابر کړي بيا يې نو په موټر کي راواخلو او دښوونځي په دروازه کي يې کښته کړو ، غرمه ناوخته يې بيا په موټر کي راولو ، ماپښين بيا بل استاذ چي موږ يې ماسټر بولو هغه ورته راځي ، انګلش او نور څه ورزده کوي ، مازديګر بيا څوک کرکټ يا فټبال او نور څه کوي ، ښه ته ووايه: تاڅه جرم کړی دی ؟

دګلزار چي دغه وخت دخپل ولس ا و دځان تړول زحمتونه او دردونه يوپه يو مخ ته پراته وو او ددغه دوکاندار او دنوري نړۍ دولسونو ناز او نخرو دده دسترګو کاسې له اوښکو ډکي کړي وې ، داسي ووېل:

زه په دې مجرم يم چي زه دافغانستان يم او افغان يم ، موږ يو نيم ميليون شهيدان ورکړل ، دوه ميليونه معيوبين ، ګوډان او ړانده شول ، پنځه ميليونه زيات او کم مهاجر او کډوال شول، وطن مو کنډواله شو.

کونډې او يتيمان مود مجبورۍ فقر ته اړشول ، څوک په نيم نس دنورو منتونه پرځان وړي ، په ګاونډي او عربو ملکو کي په نيمه مزدوري درانه کارونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هلته چي دچا خوا ورته بده شي ورته وايي: ته هم خبري کوې ته خو ماجر(مهاجر) يې. هر ځای چي څه بده پېښه (واقعه) وشي، هرڅوک يې وکړي، نوښه او آسانه کار دادی چي پر افغانتن وتړل شي، ګلزار چي په خبرو ښه موسم نيولی و، دوکاندار هم لاس ترزني ملامت غوندي ورته کتل، څه نور خلک هم ودې مجلس ته غوږ وو، ګلزار وويل: کاکاجانه تا واورېدل، موږ همدغسي هرڅه په خپل وطن کي درلودل.

يوازي موږ دوې کوټۍ چي تاسي يې بنګلې بولئ، دوه باغونه، ښه ډېره مځکه، درې غواوي، شل دېرش پُسونه، دوه ښه اسان، دسپرتيا موټر وايم څه درته وو ايم: خدای ﷻ پاک هرڅه راکړي ووداسي نو هرڅوک درواخله چي څه ناڅه شی يې درلودی، ښه جنت غوندي وطن .... ښه باغونه، رواني اوبه دوطن مېوې په مونورو ملکوو ته تللې، وايم په جنت کي اوسېدو دلته خو اوبه لاپه بيه دي . ګلزار چي دمهاجر-مهاجر په نامه دنورو افغانانو په څېر ډېر تنګ شوی و، ايله اوس يې دخپل زړه دتاوايستلو لپاره دوکاندار او څه نور کسان دخپلو خبرو تراغېز لاندي راوستي وو، دلته نژدې يوه سړي ګلزار ته اوبه ونيولې ها دا يو غوړپ اوبه وڅيښه هلکه ودي ژړولو، ګزار اوبه پرسر پورته کړې، بيا يې برش پرګوټ (بوټ) وګرځاوه او خپلو خبرو ته يې داسي دوام ورکړی، تاواورېدل کاکاموږ دغه ښه ژوند ، جنت غوندي وطن، په ميليونو انسانان دخپل وطن، ناموس او عزت لپاره قربان کړل، که ددغه سره ښامار روس مخه موږ نه وای نيولې ستاسي به څه حال وای، موږ په خپلو قربانيو سره دغه ښامار له دنيا څخه ورک کړي او دنړۍ نورولسونه مو هم ځيني خلاص کړل، اورېدلي مي دي چي زموږنيکه ګانو په دې پېړۍ کي دنړۍ يو بل قوت " انګرېزانو " ته هم ماته ورکړې ده.

اوس نو افغانان ددې وړ دي چي سړی يې پر لاسو مچ کړي او دنړۍ اتل او قهرمان ته اتل او قهرمان ووايي او که يې خلک په ډېرو وولي او ددغه زخمي زمري پښې نوري هم ورماتي کړې.

دادنړيوالو انصاف دی چي هغه سره ښاماران اوهغه زموږ قربانۍ يې هېري کړې، چي لامي اوس هم پرکراره نه پرېږدي او زموږ پر سر سوداګري کوي، دغه دلته هلته چي دخلکو بچيان او مېرمني بې غمه ګرځي داخوزموږ دمېړاني برکت دی.

ولي لا داخلک حقيقت نه مني او موږ ته په سپکه سترګه ګوري، په دغه وخت کي ددوکاندار او څو نورو ولاړو کسانو په سترګو کي اوښکي ډم ولاړي وې او هېڅ جواب يې نه درلودی، ګلزار چي دواړه ګوټه پالش کړي وو او له درده يې پر دوکاندار وروغورځول، ها واخله، اوس به دنړۍ اتل ستاسي ګوټونه پالش کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# او اخري سلګۍ يې دي

دګلاب ګل و ، ټول کلي په ښايسته و ، پلار او مور به هم ښه نازاوه ، مانښام به يې له بازاره پلار څه ناڅه شی ورته راوړی ، په دغه کوچنيوالي کي خدای ﷻ له ښايست سره – سره ښه عقل او پوهه هم ورکړې وه.

کله کله به دماما يا خاله زامنو کور ته بوتلی ، هلته به يې څو شپې وکړې هيڅ بد يې نه کول، هرشی که به بې ځايه پروت و ، هغه به يې پرځای ايښوول. چاکو ، اورلګيت(باکس) او دوايي چي به يې دنورو کوچنيانو په لاس کي وليدل مشران به يې په خبرول. هر وخت به يې لاس ، مخ او کالي پاک ساتل. بس هغه دچا خبره خدای ﷻ ورښوولي وو ، هر چابه "چارګل" ښه ياداوه. وايم په ټول کلي کي صفت يې کېدی ، له خپلي خور جميلې او مور سره به هر وخت دکور په کاروکي بوخت و ماخوستن به مور ورته وويل: چارګله زويه ستړی شوی يې ، نور ځايونه به زه هوار کړم ته ورشه ويده شه ټوله ورځ دي آرام نه دی کړی.

چارګل به ويل: موري ماته ښه کارونه خوند راکوي هغه بله ورځ مي پلار ويل: دهر چا سره مرسته کول دښه انسان علامه ده. کله – کله به له پلار سره دلويانو او مشرانو خلګو مجلس ته هم تلی او هلته به يې دمشرانو خبروته غوږ نيوی او خبري به يې زده کولې ، چېري چي به په کلي کي ډوډۍ او مېلمستيا وه ، نو هر چا به "فتح لالا" ته ويل ، چي چارګل دي هېر نه شي هغه به خامخا درسره راولې.

دسبق سره يې ډېره مينه وه سهار وختي به مسجد ته د سبق لپاره تلی ، سکول(ښوونځی) په کلي کي نه و ، مانښام تياره چي به يې پلار له بازاره راتلی ، نو ده به تر راتلو پوري انتظار ورته کاوه ، اودلاري خواته به يې کتل. پلار که به يې ټوله ورځ ستړی و يا به يې څه خپګان يا خوابدي لرله ، نو مانښام به د چارګل او جميلې په خوږو او ښو خبرو هوسا کېدی.

چارګل به کله –کله پلار ته ويل: پلاره ما هم بازار ته درسره بيايه ، زه به هلته کومک درسره کوم خو پلار به ورته ويل: زويه ته لااوس کوچنی يې ، ته اوس خپل سبق وايه.

چارګل: هو پلاره زه به سبق وايم ، سبق زما خوښ دی ، دهغه لاندي کلي ملا صاحب چي نصيحت کوي ، ږغ يې زموږ کورو ته رارسېږي ، داسي ښې خبري کوي زه هر وخت غوږ ورته نيسم.

يوه ورځ چي فتح له بازاره ناوخته مانښام کورته راغلی د چارګل مور ورته ويل: سړيه يو وار دي داجميله په موټر کي ډاکټر ته وړې وای ، له غرمې څخه ډېره په عذاب ده ، ماپښين مي حال درلېږی خو هغه ثوک نه سو پيدا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فتح چي لور ته ورتېر شو ګوري چي هغه پربل حال ده ، رږغ يې پر وکړی ، لوري جميلې څه درشوي دي ؟ خو جميلې رږغ نه شو کولای ، يوائې يې سر ته لاس وروړی يعني دسر له درده ډېره په عذاب يم ، دپلار او مور سترګی په اوښکو لندې شوې چارګل هم تږوله ورځ دجميلې په ناجوړی ديغ او اخوابدی و ، له فتح څخه نوره ورکه شوه ، دغسي وموټر ته وخوت او په ډېره تېزی يې موټر پر شا راوست ، چي مخ يې راوګرځوي ، يو ناڅاپه يې رږغ ترغوږشو دغسي دچارګل مور هم په ناره کړه ، خوله دي له خاورو راډکه کړه فتح چي له موټره راکښته سو ، ګوري چي چارګل زوی يې په موټر وهلی دی او اخري سلګی يې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بس ټلفون کښېږدي

پردل وويل: نوروز اکا په ياد دي ، دي. زموږ د کلي څنګه ښه ژوند و ، چا په لږ درلود ل چا به کم ، دچابه لس دچابه شل دچابه زياتي مېږي او وزې وې ، شپانه به خپله رمه پروخت د څړ لپاره بېوله. له رمې سره به دوه غښتلي سپي هم ورسره وو چې يو لنډی او بل برګی نومېدی.

وايم: پردانڅدې حد لېوان نه شوای پرراتلای ، رمه چې به کلي ته راورسېدله ، مېږې او وزې به پرکونه سوې او دخپلو کورو په لور به داسي ورپرېوتې لکه دډېرو شپو پردېسي چې وي ، د هر کور له خوا به دوريو او مرغو مانو اوازونه پورته کېدل ، او دخپلو مندو و راتلو ته به په هر کلي کې وو ، يووار به مېږې اووری ، وزې او مرغومان سره ګډ شول ، مېرمني به کټوي او لوښي په لاس ورته ولاړې وې څو دلوشنګ له کاره ځان فارغه کړي.

هوا او اوازونه به سره زمزمه کېدل ، دخوشحالۍ فضابه جوړه وه ، نو روز اکا پرتندې لاس تېر کړی ، لنګوټه يې ومخته کښېښودله ، سترګې يې له اوښکو ډکې وې ، زياته يې کړه ، رشتيا هم پردل لالا هغه ښه وختونه وو ، شيدې ا و مستې هرځای ډېرې وې ، غرمه به يخو او سړو شلومبو دتبې له ډوډې سره څنګه خوند کاوه ، دکلي شا وخوامڅکې به په پالېزو کرل شوې وې ، هندوانې او خټکي خو بې حسابه وو ، دغرو دچينو سړې اوبه او ددښت دګلانو بوی خو پر سړې باندې داسي لګېدی لکه شهد او عسل.

وايم: لکه دلقمان حکيم صاحب دوا او درمل اوس خو مو دادی تر زړه ويني څاڅي او سترګې مو له اوښکو ډکې دي ، دغه دوه درې کاله کاختي او هغه پخوانيو مصيبتونو هيڅ نه راپرېښوول ، مېږې وزې ، خو مو ټولي مړې شوې ، باغونه وچ شول ، کښت کرونده ختم شوه ، دخوراک شی نه شورا پاته.

وايم: وچ وړه لاله بازاره په پورراوړو ، اوس خو دادی پور لا څوک نه راکوي ، چاچې څه وس درلودی هغه بازار و او ښارو ته کډه شول ، چاته خواري پيدا کيږي او ډېري يې هلته دربدره ګرځي ، خواري او مزدوري هم نه ورپيدا کيږي ، داوبو غوړپ په ځاګانو کې ودرېدی چې باغونه او رمې يې درلودې هغه وفقر ته اړشول.

پردل لالا وويل: هو نوروز اکا تا دفقر خبره وکړه ، هغه بله شپه مې په بازار کې وه ، په جومات کې يوه سړي دمرستي رېغ وکړی او يوې خوا ته يې پټو هوار کړی ، سړی شناخته رامعلوم شو ، ښه مې ورته وکتل چې خدای ﷻ دوست اکا و ، چې خلک سره ولاړل ، پوښتنه مې ځنې وکړه ، دوې رمې يې مړې شوې وې ، په صحرا کې د ځان پرمرګ ببرېدلی و ، بل چا کومک ورسره کړی و ، ديوچا تر غوږې يې راوستلی و ، دومره خرڅ نه و ورپاته چې ځان تريوځايه پوري ورسوي يا يې ماښام وخوري، داسي نو ډېر درواخله ، نوروز اکا يو سوړ اسوېلی وکيښ او ويې ويل: ياره پردل لالا خدای ﷻ دي فضل کوي نيمه دنيا له فقره سره مخامخ شوه . وايم: يوازې دغه خدای ﷻ دوست اکا درواخله چې څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مانده و ، هرڅه خداى ﷻ ورکړي وو ، هر وخت پر شلو کسو مېلمنو غښتلى و ، مګر خوارکى نن دادى سوال کوي ډېره سخته کاختي او وچکالي شوه.

پردل لالا وويل: دالکه چي ټول زموږ عملونه دي ، چي داسي راسره کيږي ، وايم ، زموږ څه کول دخلګو سره مو معامله څنګه وه او له خداى ﷻ سره مو وعده څنګه وه ، دخير او خيرات دروازې وتړل شوې. پخوا به څنګه پسونه او غوايي د رب د رضا لپاره حلالېدل ، وايم: خيرات خو څه کوې فرض زکوة هم نه ورکوي ، پخوا چي به يې نه وې ليدلى پوښتنه به يې کول اوس چي په مخه درشي مخ درڅخه اړوي ، هغه ښه سړى به نو درته وايي. بس شکر دى معنا دا چي نوري خبري مه کوه راڅخه ولاړشه ، ستا به داخيال وي چي دامي دکلي دى يا مي دکاکا زوى دى ، دوکان او کوټې ته به ورشم ، پوښتنه به پر وکړم چي دروازې ته ورنژدې شې ، توري هنداري به يې وي سړى به نه معلوميږي ، چي څوک ستا او که نه؟ بيا نو ددروازې دخلاصېدو په چم هم نه پوهيږي.

کله-کله په لارکي يو سړى ولاړ وي ، هغه دمخه لا درباندي ږغ کړي چي حاجي صاحب نه شته معاف که ، ورورہ ولاړشه ، ته به پوښتني ته ورځې دوى چي وايي خيرات غواړي ،که دي بخت پرځاى و ، نو به دي دننه ورپرېږدي ، بيا نو دادرک نه درمعلوميږي چي روغبړ يا ستړي مسيا څنګه ورسره وکړم او ګوټونه چيري وکاږم ، ته خپلي وصيلې او قرابت په مخه رااخستى يې ، خو په داسي ناولده ځاى کي ورننوځې چي که خداى ﷻ په خير ځني راوايستې ته چي روغبړ يا جوړ په خير کوې په دغه حال کي دي دوه يا درې ګلاسونه چپه کړي يا مات کړي وي ، ولي ستا کوټ او پتلون دواړه درځړيږي ، له نا پامۍ څخه دي پښه تر ځايه سمه نه رسېږي.

وايم: څه سر دي پرله ګرځوم پريوه لويه سرګردانۍ واوښتې ، په دغه حال کي هغه ستا قريب يا شناخته هم پرځاى نه وي ، يودوه منشيان يودوه کشران وي هغه هم چا پراخبار سر ځړولى وي ، چا يو کتاب يا دحساب ماشين مخي ته ايښى وي ، چا بيا ټلفون غوږ ته نيولى وي ، دالو الو (هيلو هيلو ) نارې پکښې وهي او دابه سره وايي:

څنګه سو ، درورسېدى ، بازار څنګه دى ؟ بس درسره رايې نيسه ، دستي شل لکه درحواله کوم ، هو – هو بس صحيح دى ګټه کوي. دلته نو يو وار سره وخاندي په دغه حال کي بيا دټليفون يوه کيلۍ (بټن) ووهي اوس نو دهغه بل سړي خبري هم اورېدل کيږي ، بيا ورته وايي ښه موسم څنګه دى؟

جواب: دباندي ګرمي ده ، خو موږ ايرکنډېشن ته ناست يو.

پوښتنه: برايي مو څوک مېلمه و ؟

جواب: لنډو او پيرک ، څنګه ورقي مو وکړې هوبازۍ چا وګټله ، موږ دوې بازۍ ځيني وګټلې ، ښې دوې بازۍ مو ځيني وګټلي ، بيا خو نو پر زورور واست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه: څه وخت ویده شولاست ؟

جواب: داسي د سهار خوا وه د سهار لمونځ هم راڅخه قضا شو ښه د سهار لمونځ درڅخه قضا شو؟ هو.

پوښتنه : هغه نور چیري دي ؟

جواب : هغه لا اوس هم ویده دي ، زه اوس داسي ځاښت مهال ستا دټلیفونه په رږغ راویښ شوم مخ مي لا نه دی پرېولی.

پوښتنه: ناری (ناشته ) خو مو هم نه دی کړی ؟

جواب: هو اوس به مزدور راشي شیان به راوړي.

پوښتنه: نن ماښام چیري یاست ؟

ځواب: نن هم دلې یو ، نن نو بازي ډېره ګرمه ده.

دلته بیا داخبري سره وکړي اوکې – اوکې (Ok, Ok ) بس ټلیفون کښېږدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خدای (ج) دي وبخښه

چي دورې ورځي به يې نه سره وليدل داسي به وتاچي ويل هيڅ خوشحالي يې نه ده ليدلې ، توري مځکي به يې سره سپيني کړې ، يو په بل پسي به ګرځېدل هيڅ ځای به خوند نه ورکاوه ، کله چي به يې سره پيدا کړل تا به ويل د کلو پردېسان دي ، بيا به يې نو زړونه سره تش کړل او ټول رازونه به يې سره وويل: کله –کله به په يوه نيمه خبره کي ګيلې هم سره راغلې ، بيا به نوماښېجن او په کاږه مغزي سره ولاړ شو او يو بل ته به يې ويل ستا خوښه ده ته دغسي کوه.

کله به ورځ دوې او کله به څو ورځي سره خوابدي وو ، مګر صادق او زلمی دومره سره ګران وو چي بيا به يې يو بل ته د پخلا کېدو لپاره پلمې لټولې ، کله به يې ويل: يا ته مه ښوره بله ورځ به داسي نه کوي ، ددوی په خوابدی به ټول کلی او ملګري پوهېدل ، ولي هر يو به داسي معلومېدی لکه پاچهي چي ځيني تللې وي ، ناسته ولاړه به يې د پخوا په شان نه وه ، کله به له صادق څخه نورو ملګرو پوښتنه وکړه: صادقه ! ډېر ديغ (خوابدی) يې سم مجلس نه کوې اونن دوهمه ده زلمی هم نه درسره معلومېږي ؟ صادق به وويل: کار به لري نه به وي خلاص ، جانان چي هم د کلي دښو هلکانو څخه و او دصادق او زلمي په خوابدۍ باندي خوابدی و ، شاوخوا يې وکتل خولۍ يې پر سرسمه کړه او صادق ته يې داسي وويل: ياره صادقه ستا او دزلمي په انډيوالۍ ټول کلی ښايسته و ، همځولي به پرتاسي راټول وو ، اوس چي تاسي دوه خوابدي شولاست له مور څخه مو لا لاروركه کړې ده ، چي څه وکړو؟

يو وار يوه ته ورشو ، زارۍ ورته کوو او بيا بل ته ورځو چي څه پېښه ده ، خو يو هم حال نه وايا ست ، څو شپې ژوند دی چي په خوشحالۍ تېرشي ښه دی که په خوابدۍ ، دا به تاسي مور ته نصيحت کاوه چي سړی يو دبل سره ښه کوي ، دصادق چي دغه وخت خپل ګران ملګری زلمی سترګو ته ګرځېدی او هغه خواږه مجلسونه چي هر يو يې لکه د شب قدر شپه يا د کوچني اختر ورځ چي هر کله نه وي ، که به ټوله ورځ هر څه ستړي کېدل ، خو د مازديګر په مجلس او ليدو به يې ځان هوسا کاوه او مازديګر ته به داسي وو ، لکه څوک چي د جنت پر لار باندي ځي. صادق په جواب کي وويل: جانانه ته خو ښه وايې مګر ما په ټول ژوند کي چپ قدم نه دی ورسره ايښی. صرف هغه بله ورځ ما دا ورته وويل: باغ ته درغلم تاهيڅ مجلس نه راسره وکړی، بس پردې خبره زلمی خوابدی شو ، دوه درې واره به زه نور ورسره مخامخ شوی يم ، خو ده ځان پر خوابدۍ باندي اچولی و او لاره يې بدله کړې ده ، ښه ته وو ايه:

دی به زما څخه پردغه لږ خبره او ګيله باندي دومره خوابدی کيږي ، زه چي خدای ﷻ مه کړه دی پرسرباندي ووهم ، لا بايد دی خوابده نه کړي ، بيا زه ورغلم . په دغه وخت کي صادق دسمال له جېبه راوکېښ او سترګي يې په وچي کړې او ويې ويل: اوس ته وو ايه چي زه ملامت يم او که دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانان ورته وویل : ماته همداسي معلومیږي لکه ده چي زیاتوب درسره کړی وي ، رشتیا هم څوک له انډیوال سره داسي نه کوي لکه ده چي له ستا سره کړي دي.

هغه بله ورځ زه ددوی په باغ کي ورسره ناست وم دزلمي مشر ورور "مهربان " ورته وویل : هلکه داصادق دي لکه چي خوابدی کړی دی ، چي اوس نه درسره معلومیږي ، خو زلمی هیڅ جواب نه ورکاوه ، صرف یې داوویل : هیڅ نه ده پېښنه. آخر مهربان ورته وویل: نن یا سبا به خامخا ورځې او صادق به پخلا کوې !.

" په دې حال کي جانان دچایو پیاله پورته کړه دصادق زړه له دردمنو خبرو ډک وو" ویې ویل: جانانه ! هسي مي تادزړه غوټه خلاصه کړه او زخمونه مي لا تازه کوې ، وایم څو ورځي مخکي دافغان اکا په پالېز کي په مخه راغلی، مخ یې راڅخه واړاوه او لار یې راڅخه چپه کړه ، دبل چا خبره دوندي پرچانه درنېږي لکه دیو ګران دوست او انډیوال ، بیا دزلمي غوندي ښه انډیوال ، بس دی خدای ﷻ دې وساتي ما یې د انډیوال حق څه ورادا کړی دی ، څو واره ورغلم چي زیاتوب لا هم ده کړی دی.

جانان ورته وویل: صادقه چای دروا خله ، سړې سوې ما ته ولي درڅخه وکړې ، خدای ﷻ به یې خیر کړي. صادق چي پیاله پورته کړه جانان ته یې وویل : صادقه ته دچایو خبره کوې ، وایم ما ته ددنیا هیڅ شی خوند نه راکوي او نه ددنیا په شیانو کي وفا پاته ده.

وایم تردې وروسته ددنیا هیڅ شی پرهیڅ نه بولم مګر زلمی مي یو وخت نه هېرېږي ، کوښښ کوم چي هغو ځایو ته ولاړنه شم چېري چي زه او دی سره ګرځېدو ، دده په رنګ چي څوک وینم ، لا مي دی وسترګو ته ودرېږي ، دجمعې په ورځ تا راته وویل چي ما او زلمی اختر ته یوه رنګه کالي کړي دي ، له هغه دوکاندارسره هغه رنګه یوه جوړه کالي لا نور هم پاته دي ، هغه به ته کوې او ځان ته به یې جوړوې.

مادرته وویل : کوم شی چي ماته دزلمي یاد تازه کوي دهغه شي زه تاب نه لرم او بیا چي دزلمي په شان کالي ما اغوستي وي ، زما یو پټو دده دپټو په رنګه دی ، اوس زه هغه هم نه رااخلم او بیا زه اختر څه کوم ، اختر خو هغه وخت و ، چي زه په ښه زړه وم.

جانان ورته وویل: نوري خبري پرېږده درځه چي یو وار ورشو .

صادق وویل: دڅه لپاره ؟ بس دی نورنه ورځم.

جانان ورته وویل: هغه برابي ناجوړه شوی و ، بیا یې ډاکټر ته یووړی.

صادق وویل: دغه دی ولي یې ماته حال نه رالېږی ، زه به هم ورغلی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانان وویل: ټوله شپه یې یادولې ، چې کله به یې درد سپک شو ، دستي به یې ماته وکتل او راته وبه یې ویل: ته وایه ما به صادق وبخښي او یو وار به یې ووینم ؟

ماخو ډېري پړې وسره کړي دي ته وا اوس به یې نه راولې ؟ مابه ورته ویل اوس خو شپه ده سهار چې دی خبرشي خپله به راشي " بیا به یې لږ تسلي او ارام وشو " نو اوس درځه چې ورشو او هغه دی دزلمي ورور یونس هم زموږ وخواته په منډه راروان دی ، یونس چې رانژدې شو ، ساه وهي. هلئ –هلئ جانانه ، جانانه ، صادقه راځئ –راځئ ما ټول کلی درپسي ګښت کړی دی ، هلئ راځئ زملی ډېر په عذاب دی ویل یې صادق راولئ ، چې یو وار یې ووینم.

" دصادق او جانان هم په دې خبره سره حال بدل شو ، سترګي یې له اوښکو ډکي شوې ، بس په منډه راروان شول چې راورسېدل ، دغسي په خلګو کي دزلمي وخواته ورتېر شول ، ګوري چې پرزلمي دمرګ خولې ورماتي دي ، صادق په ګانګوړه او ژړغوني آواز پرږغ کړه. زلمیه ، زلمیه !

زلمي چې داږغ واورېدی چې صادق دی سترګي یې راروني ړې ، شونډان یې سره وښورول ، معلومېدی لکه صادق ته چې وایي ما وبخښه او رخصت راکړه.

په دغه حال کي دصادق پرمخ اوښکي راواني وې او دآخر ځل لپاره یې پر تندي مچ کړ او دایې ورته وویل: ته ما وبخښه ته حق را پل (وبخښه ) کړه ! ماولي ستا په ناجوړۍ ځان نه وخبرکړی ځنګه ژر راځخه ولاړې ، زه هم نور ژوند نه غواړم صادق هم دغسي بې حاله ولوېد او دواړو خپل پور اداکړي.

خدای ﷻ دي یې وبخښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چې فکر او سوچ په کار دی

نن ماښام یې دډوډۍ پروخت دجهانګیر او لاجورد زامنو قیصه کوله ، حاجي صاحب ښه سړی دی چایې نوم په بده خوله نه دی اخیستی ، په کورکلي کې یې دهر چا په غم او ښادۍ ځان خبر کړی دی ، له بې وسه او بې کسه خلګو سره یې تر خپله وسه مرسته کړې ده ، دژوند تودې او ترخې ډېري پرراغلي دي ، تل به یې زامنو ته داویل چې خپله ګوزاره کوي ، دچاپه کار ، کار مه لرئ که مو ښه دچا سره کولای شوای خو ښه کنه بد چا ته مه رسوئ.

دژوند یوه ترخه انسان ته ډېره ګرانه پرېوځي که یې څوک په ساړه دماغ اوسم فکر برابره نه کړي وایم ، له کوچنۍ خبري څخه لویه خبره پېښیږي ، که پر بدو واوړي ستاسي په یاد دي هغه بله شپه چې باران شوی وو ، دجهانګیر اکا دکوراوبو بله‌لار نه درلوده دلاجور پر کور ورتلې ، دلاجور زامنو داوبو لاره وربنده کړه ، چې نور موږ دغه اوبه پردې خوانه پرېږدو ، هغه و چې ددواړو کورو انسانان پرله راووتل پرځای ددې چې په خبره سر خلاص کړي او یو دبل زور راوړي ، په لرګیو او بېلچو یې یو بل سره ووهل. جهانګیر اکا سپین ږیری سړی و ، په سر کې ووهل شو ترډاکټره پوري لانه وو رسېدلی چې پر لاري مړ شو ، هغه شپږ اووه سرماتي خو لا پرېږده وایم ، خدای ﷻ مودې یې له حاله وساتي.

"په دغه کال کې دحاجي صاحب کشر زوی دلاس پرېولو اوبه راوړې ، دولت چې دپلار خبروته غوږنیولی و ، خپله اوږده خاموشي یې ماته کړه او ویې ویل: هو پلاره ! ددواړو کورونه خراب شو ل ، یو خو قتل و شو ، بل بدي ورپېښه شوه ، دایې لا څه دلاجور زامنو کډه بار کړه ، ښه کور ، ښه محله ، دبازار ښه کاروبار ، داټول ځیني پاته شول ، څوک وایي رېګ ته به تللي وي ، څوک وایي صحرا ته به تللي وي ، داشین ژمی او دا ودوی خوارانو ته ورپېښه. حاجي شاګل اکا چې دښوروا په ګوله پسي دشلومبو غوړپ وکړ ، لږ یې ګوله ترستوني تېره شوه ، ویې ویل: هو ! زویه دغه ګوله مې ترستوني نه تېریږي چې ددوی حال راپه یاد کړم. وایم ، موږ دغه دی په ژمي کې لا شلومبې نه قضا کوو هغه نور نعمتونه خو لا پرېږده.

وایم ددو ی خوارانو به څه حال وي چې ځان له یخه خوندي کړي او وچ اوړه ورسیږي ، پاچهي به یې و بولي ، په دغه لا کله خلاصیږي ، نوري خوارۍ هم ورته ګوري ، دخدای ﷻ عذاب خو لا پرېږده ، مازدیګر ادم لالا په جومات کې ویل: چې د لاجور هغه سپین ږیری ورور او وراره هم حکومت نیولي دي چې ورور دي څه شو. داغریب خو په هیڅ نه وو خبر ، بې ازاره سړی و. دغه یو بچی یې و ، هغه یوه مزدوري ورته کوله ، په دغه یې ګوزاره وه اوس یې نو دوې تورسري (ښځې) په کور کې پاته شوې ، هغه وو درې کلي لاندي دچا په غوږي "څنګ" کې همسایه وو هغه دچا خبره ده وچود رویه لانده هم سوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه حال کې ددروازې کړپ شو او " پایند " له بازاره راورسېدی ، ترسلام وروسته پلار او وروڼو سترمسیا ورته وکړه ، دولت ورته وویل :مورې لږ انتظار وکړ هغه ته وځندېدې ، بیا مو نو ډوډۍ راواخیستله ، هغه هم دډوډۍ په خوند نه یوپوه شوې دغه دلاجور د زامنو دغم قصه مو کوله .

پایند په جواب کې ورته وویل : دوکان مې پروخت بند کړ ، هلته مې لږ دوایې رااخیستله ، چې پرلارې جمعه ګل لالا راسره ملګری شو ، هغه هم دغه قصه کوله ویل یې دلاجورزامنو چې د شپې کډه بارکړه په هغه شپه خو باران اورېدی ، ختې وې تریوځایه چې تللې وو پرلارې یې موټر چپه شوی و ، وایې ، چې دوه درې پکښې مړه او څو نور ټپیان او خوږ دې ، سم یې لا حال نه دی معلوم ، له کوچنۍ خبرې څخه داده دونې (دومره ) لویه خبره پېښه شوه ، بس پلاره هغه ستا خبره .

چې فکر او سوچ په کار دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داغریبه مړه شوه

"ولي اکا ښه سړی و ، څوک يې نه وو ازار کړي ، ديو وزري او يواځيتوب ژوند ډېر پر تېر شوی و، دبل دګاونډيتوب احتياجونه يې ډېر ليدلي وو، دوه درې واره تربرو پرخپله مځکه داسي وواهه ، چي مرګ ته يې رسولی و، ډېره مځکه او جايداد تربرو ځني لاندي کړل ، پرهغه پاته به يې هم ګوزاره نه ورسره کېده ، مجبوره شو بازار ته يې کډه وکړه. ديو شناخته سره شريک شو ، څه کاروباريې پرله برابر کړ ، راستمن سړی و ، ژوند يې ژر ښه شو اوس يې نوهلکان هم غټ شوي وو ، په کار هم پوه شوي وو.

وايم هغه دچا خبره " چي ډوډۍ يې پرتبۍ ښه پخېده " زامنو ته به يې ويل: نيمه ډوډۍ خورئ نيمه دخدای ﷻ په رضا ورکوئ ، هيڅ شی مونه دي کم او مانده. ښه مېنه او کور ، ښه محله ، ښه دوکان او کاروبار خپله غوا درته ولاړه ده.

وايم: هغه تربرو چي زه يې څو واري ووهلم او دمرګ خوارۍ يې راباندي تېري کړې ، لا درته راشي هم په ښه وضعت او ښه چلند ورسره کوئ ، موږ به يې ددوی په نيت نه ورسره کوو ، زرګر چي دپلار مشر زوی و او ټولو خبروته يې غوږ نيولی و او ښه –ښه به يې ويل ، دخبري پر وار يې ويل: هو پلاره تاښې خبري وکړې ، دښه کار نوم لا ښه دی او دبد کار نوم بد دی او دبدو پای خراب دی ، خدای ﷻ موږ ته ښه ژوند راکړی دی او په ښه نظر يې راته کتلي دي.

وايم: بل که موږ ته دربدلي وي ، وي به خو موږ بل ته نه يو دربدلي. هغه زموږ تربرو چي زموږ سره يې ښه ژوند ونه کړ خپلي مځکي خو يې خپلي وې ، زموږ مځکي يې لا هم راڅخه لاندي کړې ، دغه دی نن يې څه حال دی ، خدای ﷻ دبل له احتياجه نه وايستل ، اوس چي بيا خدای ﷻ داکاختي او وچکالي پر راوستله بيا نو خدای ﷻ ښه له مځکي سره ووهل.

نن غرمه " زعفران " راغلی و ، چای مي ورته راوغوښتې وايم پرحال يې ژړا روا ده ، چي داقيصې يې راته کړي دي ، زړه مي باندي تور دود سو ، باغونه يې ټول وچ شوي وو ، دپسو دانه نه وه ورپاته ، دکال له سره چي يې پورونه کړي هغه پر باندي وو ، د پوروړو له لاسه يې سترګي نه شوای ښکاره کولای. ويل يې زوی مي يوه مياشت دمخه باوړۍ ته ولوېدی نو رسلامت و ، خو دغه ښی لاس يې دوه ځايه مات شوی و. ويل يې دډاکټر پيسې مي نه درلودې ، سکندې والا هغه لاسونه چي تړي هغه ته مي ورووست ، هغه يې لاس وروتړلی هغه هم سم نه دی جوړ ، هلک ځيني په عذاب شو او خلګ وايي ، چي دابه بيرته ورماتوئ ، کوږ به يې ورتړلی وي ، ده راته ويل ، چي له کوره راتلم يو موټ اوړه هم په جوال کي نه وو ، موټر کرايه مي له بل چا پور کړه ، " زرګر سوړ اسوېلی وکيښ ، له نژدې منګي څخه يې اوبه پرسرپورته کړې ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار ورته وویل: هو زویه ! پر موږ ښه ولاړه ده ، یوائې چې د خدای ﷻ شکر اداکړو ، څوک راڅخه ازار نه شي ، کبر او لویي راڅخه ونه شي.

وایم: هغه بله ورځ چا قیصه راته کوله چې "ګلداد " او ملنګ چې سکه داکا زامن دي پرکوچنیانو یې سره جنګ شوی دی بیا یې نو هلکان سره راوتلي دي ، مرګ له یې سره وهلي دي. یو هلک په سر کي په بېلچه وهل شوی دی ، چې دخبرونه دی ، دوه په " لرو " وهل شوي دي هغه هم کاري خوږ دي.

وایم: دانو څه ژوند دی چې یو وار کاختي شي ، بیا بدي شي ، وایم داټول زموږ عملونه دي " ولي اکا " دنسوارو دبلی سره ښوراوه ، نیت یې داو چې نسوار وکړي. زرګر دخبري وار پیداکړ او ویې ویل: هو پلاره ! دزعفران قیصه مي درته کوله چې دزوی لاس یې مات شوی و ، هغه هم سکیندې والا کوږ ور تړلی و ، دغه یې حال وچې دموټر دکرایې پیسې یې لانه درلودې ، هغه دوا او ډاکټر خو لا پرېږده ، ما هم ددوی په عمل نه دي ورته کتلي چې یا یې زموږ مځکي لاندي کړې یا یې له موږ سره په کلي کي ظلمونه کول. وایم ده غریب هم پورته نه شوای کتلای ، دی هم په هغو خپلو کارو لکه چې شرمېدی.

بس پلاره ده دغه دغم قیصې راته کولې ، زه به هم یو وار په کار ځني اخته شوم ، دوه واري مي چای ورته راوغوښتې اخیر مي زر روپۍ ورکړې چې داواخله هغه دزوی علاج به په وکړې ، که کلي ته تلې رابه شې یوه ګونۍ اوړه ، څه چای او بوره به هم مادرته ایښې وي هغه به هم درسره یوسې.

ده غریب سر سرتور کړ ، ډېري دعاوي یې وکړې ، ده لا دغه دعاوي کولې چې دکلي د" ملک مدو " زوی ورپسې راغلی ، سا یې لنډه – لنډه کېده زعفران ته یې وویل: ستا تر راتلو وروسته دي کور والا پر اولاد سخته ناجوړه وه ، بل شی نه وو دغه زموږ دسپاریانو په موټر کي مو راواخیسته دوې ښځې نوري هم ورسره راوختې ، دغه وو چې لنډې مانده ته راورسېدو ، هلته مومونټر خراب شو ، سواریان کښته شول هغه ستا کوروالۍ مو په څولۍ کي راکښته کړه ، دیو پاڼ په سیوري کې مو کښېنووله ، موږ په موټر اخته شو چې ژر به یې جوړ کړو ، لږګړۍ وروسته مو د کوچني ژړا ترغوږ شوه موږ خو ورتلای نه شو ، هغه ښځي ورسره اخته وې یوه ښځه زموږ خواته راتېره شوه او په ژړا یې موږ ته وویل ، چې کوچنی یې پیدا شو او داغریبه مړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا به بد نه کوم

کله انسان داسي وي لکه هغه نوم چي وي ، دغسي ښه والی او بدوالی یې دهغه له نامه معلومیږي ، خو کله بیا داسي نه وي او خبره سرچپه وي لکه د " زرداد " نامه ته چي ګوري ، څوک به وايي چي زر به سره ورکوي او زر به وېشي مګر دی داور سکروټې پاشي او بېشي (وېشي) ، زرداد چي کوچنی ولا یوه ستړیا وه ، که به یوه ورځ ترځانګو ایله شوی و سربه یې مات و . خو بله ورځ به یې دشیدو بوتل داسي کلک و غورځاوه چي نه یوازي شیدې به ځني توی شوې بکلي پرپلار به یې بل بوتل هم تاوان کړ ، چي کله دځکېدو یا خاړپوڅو شو بیا له مور او خویندو څخه نور کار پاته و ، چي نورو کوچنیانو به چا خوړلې ، ده به ګلاسونه چپه کول چي نور به سم ناست وو ، ده به په لوښو کي خاوري اچولې ، وایمه سمه سرګرداني و.

یوه ورځ چي مور یې په کار پسي ولاړه او یو ناڅاپه یې د زرداد سوي نارې تر غوږ شوې ، له هغه ځایه یې نارې کړې.

- لکه چي خاوري مي په خوله شوې داڅه وشول ، چي هلک داسي سوي بغاري وهي ، " تانو " خور یې بدي واخیسته او ژر – ژر سرې اوبه باندي تویولې ، چي مور یې رانژدې شوه ورته ویې ویل : موري داخو یې تودې چای پرځان چپه کړې ، هله یوه چاره یې کوه ! مور یې ژر کوچنی دهلکانو په پلار پسي ولېږلی چي هله ورته وایه ژر ارځه چي زرداد وسو ، میراجان چي ترلمانځه وروسته له جوماته پرلاري و ، حیران دی چي دا " جنت ګل" څنګه راځغلي . " جنت ګل " چي رانژدې شو پرپلار یې ږغ وکړ، هله اغا جانه ژرکوه چي زرداد وسو .

میرا جان هم په ډېره حیرانی سره پوښتنه ځني وکړه څنګه او په څه شي وسو ؟ "جنت ګل" وویل: تودې چای یې پر ځان چپه کړې ، میراجان دغسي دکور پر خوا را چابک شو چي راورسېدی، ګوري چي هلک لکه ماهی چي پروچه کښېږدې داسي پرله اوړي ، میراجان سمدستي دهمسایه ندا کور ته ورنارې کړې چي هله موټر دي راوباسه چي یو وار داهلک تر یو ډاکټر پوري ورسو و.

"همسایه ندا " هم موټر په تلوار رارهي کړ او هلک یې مخ پرروغتون (هسپتال) راواخیست ، میراجان په دغه وارخطایي کي ندا ته وایي ته وا داوخت به څوک وي ، موټروان ندا وویل: هو څنګه به نه وي ضرور به څوک وي ، دهسپتال(روغتون) پردروازه یې لیکلي دي (۲۴) ساعته بېړنۍ (ایمرجنسي) اسانتیاوي ستاسي لپاره شته

په دغه حال کي کوچنی یو وار ډېر په عذاب شي ، بیا میراجان خوارکی پرږغ کړي ، مه ژاړه اوس به پلار کوټه شیان درواخلي (درانیسي) ، چي یو ډاکټر پیدا شي بیا به نو پلار ډېر شیان درواخلي ، ښایسته –ښایسته شیان ، بیا میراجان نداته وایي ښه تا ویل اوس به ډاکټر وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ندا : هو ډاکټر څه ډاکټر ان به وي دهغه هسپتال (روغتون) پردروازه یې دډېرو ډاکټرانو نومان لیکلي دي امبولانس هم لري مګر امبولانس یې نو دچا په ښه نه دی ورغلی، ولي په هغه کي دوی کور ته ځي او دکورکار ځني اخلي.

میراجان خبره ورغبرګه کړه : دښادی هسپتال او امبولانس دې شي خدای ﷻ دي ثوک نه ورته اړ کوي ، له ماڅخه خړي او روڼي پرله ګډي شوي دي ، ته لاري ته سم پام کوه چي یا لار خطا نه کړي یا یو شی په ونه وهې یا دهسپتال کوڅه درڅخه خطانه شي.

ندا ورته وویل: وروره ته وارمه خطاکوه ، داپه دنیا کي پېښېږي ، دادی راورسېدو ګوري چي دهسپتال دروازه کولپ ده ، یو صفایي والا له دروازې سره ناست دی جارویې وخنګ ته پروت دی.

میراجان خوارکی لکه مسافر پر راشېوه شو ، سم یې هم نه پېژني چي مزدوردی یا کمپوډر ، خو دوی خپلي بدې ورځي ورته راوسول.

میراجان ترسلام وروسته داسي په مظلومانه ډول ورته وویل: وروره ! ډاکټر صاحب چېري دی ؟ مورې دامریض را اخیستی دی ډېر په عذاب دی.

صفایي والا وویل : ډاکټر لا اوس نه دی راغلی ، تاسي ته خوهم دشي وخت نه معلومېږي ، بس هروخت چي راروان شئ ، هغه وخت راشئ.

میراجان: وروره ته خوا مه بدوه ، داخو پېښه ده ، وخت نه لري. صفایي والا وویل: ډېري خبري به نه کوې ، هر شی خپله طریقه او وخت لري ، زه لا دغه هسپتال ته پروخت راځم ، داېي طریقه ده. اول به نمبر اخلې ، بیا چي ډاکټر پر "۹" بجې راورسېږي بیا به نو هغه وخت پرخپل اخیستي نمبر سره خپل مریض ډاکټر ته ورښکاره کوې.

میراجان: په ډېره ناامیدی سره دموټر خواته راغلی او "ندا" ته یې وویل: وروره داخو ډاکټران نه شته ، هغه سړي په ډېره خوشکه او خبښم راته وویل چي هغه پر "۹" بجې راځي.

ندا : ته راځه چي دډآکټر کورته ورشو مجبوري ده اوس یې نو څنګه کوې ، هوسا د سټړي په حال څه خبر دی ، موټر ته راخېژه ګوندي ډاکټر په کور کي پیدا کړو.

د " زرداد " سوی بدن ، سختو بوغارو ، دډاکټر نه پیداکېدل له میراجان څخه هرڅه ګډ وډ کړي وو ، نژدې و چي موټر ته د کړکی له لاري وخېژي ، خوند ا استاذ دروازه ورخلاصه کړه او موټر یې روان کړ ، لږ ساعت وروسته ندا پرمیراجان ږغ وکړ، وروره دادی دډاکټر کور ته راورسېدو ، ته ژر دغه شنه دروازه و روټکوه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داځنګ ته يې دارنګ بتېن هم ده ، ميراجان چې دغسې په يوه سا ورشېوه شو، دروازه او بتېن يې يوځای ورووهل لږ ساعت وروسته دروازه خلاصه شوه ، يو هلک چې دخوب کالي يې اغوستي وو، سترګي په دواړو لاسو موښلې راووت ، داسي معلومېدی لکه له خوبه چې وي ، ويې ويل: څوک مو په کار دی چې داوخت راروان ياست ؟

مېراجان داسي زهير ورته وويل: مريض مو رااخيستی دی ، ډاکټر صاحب مو په کار دی هلک وويل هغه اوس نه سته هغه واک ته تللی دی.

ميراجان وويل: ښه ډاکټر صاحب واک ته تللی دی ، واک چېري دی ، واک مريض دی که بل شی ، ته يې موږ ته راوښيه چې هلته ورشو.

هلک وويل: په شي نه پوهېږې ، وايې واک څه شی دی ، واک ورزش ته وايې ورزش ته ، داسې چې سهار ځغلي. ميراجان مخ پرندا استاذ راواړاوه ، ويل داخو هم نه شته وايې ډاکټر صاحب سهار ځغلي ، ګوره چې په چاپسي ځغلي ، داغريب ته هم لکه چې يوه خواري ورپېښه شوې ده چې په ميدانو دي ، ندا وويل: ته موټر ته راوخېژه موږ له سهاره چپه راباركړې ده ، ته راځه بل روغتون ته ورشو که خدای ﷻ کول دهغه ډاکټران به پرځای وي او هسپتال به هم خلاص وي ماته يې ډېرو خلګو صفت کړی دی ، وايي چې دهغه دوايي سمه هم ده او ارزانه هم ، ناحقه غوتيي خلګو ته نه ورپه شاکوي او ډاکټران يې هم ښه خلګ دي او هلک هم دادی اوس ډېري بغاري نه وهي ته وايه درد يې سوکه شو او که دژړا څخه ستړي شو.

ميراجان وويل: زما خيال دی هغه په کورکي چې مو ګولۍ ورکړې هغو لکه چې نشه کړ، ندا خبره ورغبرګه کړه ، بس دايو راورسېدو هغه دی وينې دهسپتال (روغتون) دروازه خلاصه ده ، خلګ وځي ننوځي ، معلومېږې چې ډاکټران هم پرځای دي ، دستي نورو خلګو ميراجان ته وار ورکړ ، هلک ډاکټر وکوت ، دوايي يې ورکړه ډاکټر خپل فيس هم ورمعاف کړ ، څو ورځي په هسپتال کي و ، ترهغه وروسته کور ته ولاړل ، ميراجان هم دوايي له حلالي خلاص کړ.

مياشت پس زرداد جوړ شو مور پلار او نورو کوچنيانو ته به يې ويل: بيا زه بد نه کوم دمور او پلار په خوله به کوم ، ما چې بد کول مورا و پلار څومره راسره په عذاب شول. څومره پيسې ځني ولاړې او پر ماڅخه خوارۍ تېري شوې ، بيا به بد نه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احتیاط کوه

ډېرې خوارۍ پر تېرې شوې ، سوګل یې دتې و او رنګینه په دوهم کال کې وه چې خاوند یې یوه شپه کور ته تلی پر لارې غلو وویشت او مړ شو ، دلاس ساعت او څه پیسې یې څنې یووړې ، د " خانو " تر فاتحې وروسته یې څوک نه درلودل ، چې غم یې وخوري یا یې سرپرستي وکړي.

میراث خواره یې ښه خلک وو ډېره یې نه زهېروله مګر د کومک وس یې هم نه ورسره کېدی ، ولې هغوی هم غریب خلک وو ، خاص څه یې نه درلودل ، بس " شمایله " وه او دوه یتیمان ، ځوانه وه ترکور هم نه شوه وتلای چې دچاکره ورشي څه کار مزدوري یې وکړي ، ولې چې خلک به څه وایې ، چې پر ژوند مې تور داغ ونه لګېږي او بل که تلای نو دکوچنیانو غم ورسره و ، چې خدای ﷻ مه کړه په دوی څه ونه شي ، نه بېرېږي ، دیوبل کره که به څه کار پیدا شو ، نو شمائلې ته به یې رالېږي ، دتلتک ، نالۍ او بالښت جوړېدو څخه نیولې دکمبلو ترټکوهلو او کالیو ترمینځلو پورې یې له یوه کاره مخ نه ګرځاوه.

دومره مزدوري ورپاتېدله چې وچ اوړه به یې په رانیول بس حیاداره او پلار داره مېرمن وه ، خپله حیا یې ساتله ، دایې هم پاچهې بلله ، چې څوک یې له خپلو یتیمانو سره پرېږدي او کار په ونه لري. خوارۍ او غریبۍ ډېرې پرتېرې شوې ، خو چا یې ږغ نه واورېدی ، څوکاله وروسته چې اوس " سورګل " څه غټ شو ، زلمی شو ، څه موده یې دچا سره مزدوري کوله خواوس پر غاړه راټال دتختو په غالب کې سګرېټ خرڅوي ، څه یې لاس په خلاص دی ، په څلورو پنځو شپو کې به کټو باندې کېدله ماښام به ښه خوشحاله سره ناست وو ، دخدای ﷻ شکر به یې کاوه ویل به یې خدای ﷻ: دغه نیمه ډوډۍ موتر خوله تېره ده ته مو باقي ژوند له غمه وساتې او سورګل ته به یې ویل: زویه دغه خواري چې کاږې او ماښام خپل کورته راشې دبل له بدو مودي خدای ﷻ وساتي دغه لویه پاچهي ده ، دغه حال دي خدای ﷻ نه دروي.

سورګل وویل: هو مورې ښه ولاړه ده ، خو بیا هم په دغه ګوزاره نه کیږي ، ژوند مناسبتونه غواړي ، جوړ ناجوړ پېښیږي ، دالا څه هغه دی بابا مسکین په کوچنیوالي کې کوزده راته کړې ده او ولور یې ټول پاته دی ، حیا مې دبل پرکور ده ..... غاړه یې ایستل غواړي او حیا راخوندي کول غواړي ، هغه نور رواجونه خو لا څه کوې ، زه مجبوریم چې یوه خواري وکاږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور یې وویل: څه خواري به وکاږې ؟ مورې خو مال او دولت نه لرو چې بل کار وبار په وکړې ، بس همدغه ددوو لاسو خواري به کاږې.

سورګل وویل: موري سرکار (حکومت ) خلګو ته په پور موټران ورکوي ، زه به یو موټر په پور واخلم ، خواري به په وکاږم په کال دوه کې به مې کار سم شي ، تردغه دوه لاسو خواري خو هیڅ نه وځي.

مور یې ورته وویل: موټر څه کوې یو وار خو پور دی بیا چې ته مسافر شې زه په کور کې یوا ځې یم ، اوس چې ماښام ته راشې سترګې مې درډ کې وي ، دغه دنپستۍ پرګوله سره کښېنو وایم ، چې رنګینه خور دې نه وه راڅخه واده کړې ، له هغې سره به مې خوله پرې وه ، لاس به مې په سپک و ، هغه دې دهغې خوارکۍ بیا څه حال دی ، دژوند ګونډه ده ، زمورې دې دادغم رواجونه شي چې په کوچنیوالي دوستي وکړو بیا نو په لویوالي هغه هلک چرسي یا هیرویني یا غل شي ، نه ده معلومه چې څه شی ځني جوړشي ، مورې هم دغه ستا او درنګینې

دوستۍ په کوچنیوالي وکړې ، هغه دی رنګینه خور دې په سرو اوښکو واده شوه ، په سرو اوښکو ناسته ده زه دلته په پخه یم ، خاوند یې هغه و له بې لارو خلګو سره ګرځېدی هغه دقتل په تور (جرم) حکومت دغه دوه کاله ایله کوي او بندي کوي ، په دغه سرګردانۍ کې یې رنګینه له مورې څخه واده کړه ، په ښادۍ یې پوه نه شو ، پرون زه ورغلې وم ، ګرده کهول یې دغم پر کمبله ناست وو ، رنګینې داسي اوښکي تویولې لکه شمه داسي سوې وه تاچې ویل اور ته دي نیولې وه ، هغه ددې ښه ځواني پربل حال وه.

په دغه وخت کې یې مور له ژړا څخه په سلګیو شوه یو ګړی وروسته سورګل وویل: بس دی یو ګړی دي اوښکي پاکې کړه ، سورګل هم دپټو په څاک خپلي لندې سترګې وچې کړې بیا یې وویل: هو ! موري زه هم څه غورېدلی یم چې درنګینې خاوند به عمر قید یا پانسۍ کیږي ، هغو اصلي قاتلانو دحکومت سړیو ته پیسې ورکړې ځانونه یې خلاص کړل او "بلو " اخښي ته یې وویل: چې ته اقرار کړی و ، چې د " ملک ظریف ورور ما مړ کړی " او ځان یې پساوکړ، بس هغه دچا خبره " چې بد ګرځې بد به پرځې " له بدو خلګو سره ناستې ولاړې دغه دی تر دې حاله ورساوه چې نن یې ټوله کورنۍ او خپلوان دغم پرکمبله ناست دي ، وایم چې په مورې پوري یې لا دغه دمسکینۍ ډوډۍ زهر کړې ده ، دومره توان نه دی راپوري چې یو وار دغه خور ووینم هغه ددې ښه ځواني څنګه کباب شوه ! بس خدای ﷻ دي دغه زمورې ځایه رواجونه ورک کړي ، هلک او نجلۍ لا کوچني وي مورې یې کوزده وروکړو. بیا نو نه ده معلومه چې په لویوالي څنګه شي او بیا په دغه ویر اخته شو.

موري ما هغه خپله دغم سندره درته ویله هغه دغه قصه په راګډه شوه څه به یې درڅخه پټوم ، یوه میاشت کیږي چې موټر مي په پور اخیستی دی، موټروان (ډریور) راچلاوه ما هم زده کړ ، داڅو ېېرې کیږي چې زه یې بیایم او راولم مازدیګر چې راورسېږم هلته په ګېرج کې یې ودروم ، موټروان مي نن جواب کړ ما ویل ، ښه دی دغه دده پیسې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم راپاته شي نو که یو شي ځني جوړشو. موربې وویل: ښه دی زویه اوس خو اوبه تر ورخ تېري دي. زه نو څه درته وو ایم بس احتیاط کوه لېري مه ځه ماښام دغه خپل کورته راځه.

" سورګل چي نازده کړی و، موټر يې لا سم نه وزده له ډو خطرناکو پېښو څخه خدای ﷻ پاک ژوندی خلاص کړ، کنه هره یوه يې دمرګ وه، څه موده کېږي چي موټر کورته راولي، کله –کله به ماخوستن په کلي کي چا-چا یو او دوه نفرو ژمنه وسره وکړه چي سهار به سره ځو، بس یو او دوه نفره دغه دکلي یو او دوه نفره دبازاري سواري( سپاري) به يې پیداکړه بیا به يې موټر ته پښه ورکړه، چا به ویل فضل –فضل وروره لږ سوکه (کرار) درځه اوسو به مودلته په مړه کړې داځنګه رفتار (تګ) دی، بل سپاري به ویل: دغسي چابک درځه مرګ له یارانو سره ښه دی، په دغه اړو دوړ کي به يې موټر راوستی اوبېوی، برابې ماخوستن هم دکلي دربېو کسانو ژمنه ورسره وکړه، چي سهار وختي به سره ځو یو دوه کسه به پرلاري پیداشي، کنې زموږ کرایه دي بس ده، غرمه لا نه ده په کلي کي ناري شوې چي هلئ مړي يې راوړل، کوڅې له کوچنیانو او ښځو څخه ډکي شوې، سپین سري هم کوڅوته راووتې دسورګل مور هم راوتلې ده یوې بلي سپین سري ته وایي. خدای ﷻ دي داجنګ و دروي څنګه ځوانان يې خاوري کړل، دغه دی بیا يې لکه چي شهیدان راوړل.

هغه دی جنازې يې مسجد ته یووړې بیا به يې کومي مندي بوري کړي وي، په دغه حال کي یوه دکلي ملا صاحب او هغه موټروان چي داپېښه يې په سترګو لېدلې وه او دامړي يې تر دې ځایه راورسول، دسورګل پر مور دخلګو له مینځه را دمخه شو او داسي يې ورته وویل: دسورګل موري دخدای ﷻ امر قبول کړه، خدای ﷻ درکړی و، خدای ﷻ درڅخه واخیست هغه دی ستا دزوی او دکلي دربېو نورو کسانو جنازې مو مسجد ته راوړې. خدای ﷻ دي يې وبخښي.

دسورګل مسکین دمور یوه چیغه (ناره) ترخوله وختله زنو يې بلګ شروع کړاو ټول بدن يې بې واکه شو، دستي نورو سپین سرو تراوړو ونیوله او پرمځکه يې کښېنوله، یو بل سپین ږیري ورته وویل: دالته کښېنه جنازه ستا دلېدو لپاره دلته راوړي هغه موټروان (ډرېور) چي دغه قصه يې ټوله په سترګو لېدلې وه، داسي يې ویل: زما موټر سهار دده په موټر پسې و، دژړي تربند چي ورتېر شو دوه موړه (کړلېچ) په ها خوا سړک ښه هوار او سیده دی، پردغه ځای چي دی زما دمخه و، موټر يې نور تېز او چابک کړ، مخامخ یوه غټه لاری موټر پرراغلی، سورګل هم لکه چي له ډېري تېزۍ څخه موټر نه شو کابو کولای، نومخامخ يې په دغه بېنس موټر کي وواهه، دده موټر خو کوچنی و، دهغه موټر ترحصه لاندي شو، موږ چي ورکښته شوو، بس دقیامت ورځ وه، ویني بهېدلې. موږ چي سره راکښل ټول مړه وو، خدای ﷻ دي يې وبخښي ما به کله- کله سورګل مسکین ته وویل، چي موټر دي سم نه دی زده، په خپله يې مه چلوه، که يې چلوې نو احتیاط کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بیا په مسافرۍ کې

د ماښام تر لمانځه وروسته به ځوانان ، سپین ږیري سره راټولېدل ، څوک به لوړ پر دوکانچه ناست وه ، چا به لاندې دوکانچې ته څنګ وهلی و . څوک به بیا د جماعت د ېوال ته ناست و. که به څوک نه وه راغلي د هغو به پوښتني کېده ، ښې غورې به کېدې ، د کلي بازار نوې او زړې به بیانېدې ، که به له یو ې خوا څو سپین ږیري د پخوا زمانې خبري کولې ، له بلې خوا به بیا چا د سبا لپاره خپل کارونه یادول.

یوه به ویل: سبا زما د اوبو وار دئ ، ته وایې مځکه په مې اوبه سي که به څه پاته سي ؟

هغه بل به ورته ویل: یا وروره ! فکر مه کوه واله ډکه ده ، وایم که نیت پراخه کړې زما لانیم کار درسره کیږي ، وایم چې کاختې تېرې شوې ، خدای ﷻ پاک دې بیا دا وچکالي نه راولي. سږکال خو دا الله ج فضل دی بارانونه او ځای – ځای واورې وشوې ، د هغه دې یو څه اوبه شته.

هغه بل به ورته وویل: بس اوبه به د خدای ﷻ ج خیر کړې سبا په هغه کښته کلي کې واده دی او موږ ټوله کلي ته یې ست کړی دی چې هیرې مو نه شي، بس له هرې خوا به مرکه توده وه ، یوازې زرګر لالا و چې ښه عجیبه نوې به یې نه وه اورېدلې څه به یې نه ویل.

کله چې به یې څه عجبه اورېدلې وه په هغه ورځ به په جګه غاړه ناست و ، هر سړی به په پوهېدی چې عجبه یې اورېدلې ده ، نن هم چې جګ ناست و انتظار یې کاوه چې خلګ ټول پوره شي او یو څوک د عجبې خبرې پوښتنه ځیني وکړي او دی خپله عجیبه ورته بیان کړي ، په د غه حال کې تاج ګل راورسېد او پر زرګریې لا په ولاړه ږغ وکړ، شروع په کوه زوروره خلګ دې په انتظار ووژل.

زرګر وویل: نه – نه تاج ګل لالا ټوله ژوندې دي ، بس راځه ته مانده وې ، ښه شو چې راغلې. نوې هم عجبه نوې وه.

تاج ګل وویل: شروع په کوه چې دډوډۍ تروخته که دې په متې خلاصه کړه !

زرګر وویل: چې نه مې پرېږدئ نو یې واورئ ماپښین مې یو دوست د کراچې د سفر قصه راته کوله ، تاسي واورېدل ؟ ټول مجلس پر راږغ کړه هو – هو قصه کوه ! وامو ورېدل.

زرګر زیاته کړه: بس نو ورور ته دې وویل شي ، دغه دوست قصه راته پیل کړه ویل یې: د کراچې د بس ټکټ مې کړی و ، پرخپله چوکۍ کښېنستم ، ټول بس ډک شو ، په مزل یې شروع وکړه ، ترڅو ساعته مزل وروسته د بس دمخ له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ځخه یو سړی راولاړ شو په نصیحت یې شروع وکړه ، بې سده زورور تقریر یې وکړ، په دغه حال کې دبس دپای له خوا یو بل سړی راولاړ شو ، ویل یې: دا څنګه ښه سړی دی او څنګه ښه سړی دی او څنګه ښې خبري یې وکړې زه غوا ړم ودغه سړي ته لور ورکړم.

نصیحت والا چې دا خبره واورېده ویل یې: نه – نه زه دي لور نه غواړم ، ما دا خبري دخدای ﷻ لپاره وکړې زه دي لور څه کوم ، دلته دلور پلار زاری ورته شروع کړې چې خامخا به زما لور په نکاح اخلې.

وایم ، چې څه سر دي پرله ګرځوم دغو نورو مسافرو هم خواستونه ورته وکړل.

نصیحت والا خبره ومنله چې سمه ده زه به دي لور په نکاح کړم ، په دغه حال کې یو بل سړی راولاړ شو ویل یې ، چې له ماسره څه خوږې (متهایي) دي دکور لپاره مي راا خیستې دي ، زه بیا دا خیرات کوم دا یې ددې دوستۍ شېریني ، چې دغه دوستي وشوه ، اوس نو په بس کې دمسافرو خورا ساعت تېر دی یو وار نصیحت بیا دوستي او بیا مفته متهایي او شېریني (متهایي) ووېشل شوه ، هغه دچا خبره چې مفتو شرابو به دچا لاس ودرېږي ، بس خولې شخوند – کېږي څوک په تعجب څوک په خندا دي.
وایم تاته دي وویل شي ښه و چې نه وې راسره ماورته وویل: ولې یاره ته بیا څومره کم نیتی یې ، دبل مفته متهایي دي لا نه ده راباندي پېرزو ؟

ده راته وویل: په دغو متلو او کنایانو بیا زما سره نه خلاصیږي سمه یې سپینه راته وکړه.

حقداد راته وویل: چې لږ وروسته به دي سر په خلاص شي ، هغه دچا خبره ، چې دخرو خاوند راشي ، دلته زرګر قصه پرېښووه ویل یې: بس دی نوره قصه به بیا بل وخت کوو.

دزرګر نازک طبیعت هرچا ته معلوم و ، چې په بنډار (مجلس) کې به دده لپاره چای راتلې ، دده مړۍ (ډوډۍ) به ښه غوړه وه ن، بیا نو ده ښه مجلس کاوه او ښه شعر به یې خلاص و ، چې نه چای وې ، نه ډوډۍ نو ځکه یې قصه په نیمایې کې ودروله یا پرېښووله.

تاج ګل لالا چې دده ښه طبیعت نیولی و او ترنورو ښه ورسره پوهېدی ، پر راږغ یې کړل ، وروره زرګره قصه مه پرېږده ته خو دمجلس مالګه یې ، چې ته پکښې نه یې هغه مجلس لا خوند نه کوي. وایم ، چای به بیا په کوټه کې کوو ، دغه یو ګلاس اوبه درواخله حلق به په لوند کړې نو به په قصه ښه خوند وکړې ، زرګر چې اوبه وڅښلې ، یو څه دتاج ګل دناز خبرو طبیعت ورسم کړی و ، ویل: نه – نه داسي نه ده ما ویل ، ناوخته به وي کوچنیان به کور راته ګوري ، ټول مجلس په یوه خوله پرږغ کړه وروره زرګره !

قصه کوه ته وایې ناوخته به وي ، وایو چې سهار کیږي لا دي نه پرېږدو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګر لالا قصه پیل کړه: نو خبره داده چې حقداد راته وویل: مېنايي او خوږې نه وې چې موږ وخوړلې بلکې د خدای ﷻ قهر شو ، لږ ساعت وروسته ټول خلک له موټروان سره نشه او بې سده شوي يو ، دغو درې کسانو چې يو نصيحت والا ، دويم د لور پلار او دريیم د مېنايي والا ، درې سره ملګري او غله دي ، بيا نو يوه موټروان ( ډرېور ) چوکۍ ته ورغلی دی ، او بس يې يوې خوا ته درولی دی ، چې څه شيان راسره دي ، پيسې ، ګړۍ ، او نور قيمتي شيان ، هغه به يې ښه په بېغمۍ له مسافرو څخه راټوک کړي وي.

يو وخت چې موږ په حال کې راغلو ګورو چې په هسپتال (روغتون) کې پراته يو ، ډاکټران ستني رالګوي ، د حکومت سړي شا وخوا راباندې پېره دي ، ته وا موږ غله يو ، هغو دريېو کسانو موږ ټول لوټ کړو ن، چې په ځان يې لا نه کړو پوه.

بس وايم: حقداد راته وويل ، چې د ناولده چا شی به څوک نه خوري ، بيا په مسافرۍ کې.




رحمت الله رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر په برېښنايي کتابتون کې پر لیکه اثار




## • اسلام او مذهب :

- د روژې ډالۍ ډاکټر نثار احمد صمد
- روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت مؤلف: مولوي سید محبوب شاه ساجد
- د اصحابانو کیسې مولوي عبدالهادي حماد
- د مصطلح الحدیث علم په سوال او ځواب کښې لیکونکی: شیخ مصطفی العدوی مترجم: محمد عمر بشار
- اړینه پوهه مولوي عبدالهادي حماد
- د برېښنايي کتابتون د اسلام او مذهب د برخې د نورو پر لیکه کتابونو لپاره دلته کلیک وکړئ !

## • ساینس او تخنیک :

- د رڼا کړکۍ (د کمپیوټر زده کړه) عبدالستار فیضي
- سرطان او د چاپېریال رادیو اکتیویټي لیکوال: پوهنوال ډاکټر نظر محمد سلطانزی ځدراڼ
- د مایکروسافټ آفس پښتو لارښود عبدالستار فیضي
- غواړئ ذهني ځیرکتیا مو تمرین کړئ؟ ژباړن: مختار احمد احسان
- د ساینس او تخنیک د برخې د نورو پر لیکه کتابونو لپاره دلته کلیک وکړئ !

## • سپورټ او روغتیا :

- هغه پیاوړي لارې چارې چې اند ښېښنه ستاسو له ژوند څخه محو کوي ژباړن: ډاکټر محمد رقیب (فاروقي وردګ)
- THE PREVALENCE OF HIV/AIDS IN AFGHANISTAN Dr.Hameed Shuja
- د کوچنیانو تنفسي سیستم لیکوال: پوهندوی دوکتور سید حسام مل
- د لراوبر وېبپاڼې د برېښنايي کتابتون د سپورټ او روغتیا د برخې د نورو پر لیکه آثارو لپاره دلته کلیک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library




- **هنر او ادبیات :**

- راځئ کیسه ولیکو ________ نصیر احمد احمدي
- مناجاتونه ________ نور احمد قرانمل
- د هیلو غوټۍ ________ ویناواله: وحیده "آرینزۍ"
- د ابراهیم ادهم په پلونو (ناول) ________ لیکوال: عبدالله الهام جمالزی
- منظومې کیسې پښتو لنډۍ او غاړې ________ لیکوال: ځارنوال احمد منګل خان

- **د ماشومانو لپاره :**

- کوچنی شاهزاده (د ماشومانو لپاره) ________ ډاکټر عبدالباري
- زما سوی (د ماشومانو لپاره) ________ مختار احمد احسان
- فتیالر (د ماشومانو لپاره) ________ مختار احمد احسان
- د برېښنايي کتابتون د هنر او ادبیاتو د برخې د نورو پر لیکه آثارو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **تاریخ او سیاست :**

- روز شمار واقع افغانستان ________ تهیه او ترتیب: حمید علمي
- شیرشاه سوري د افغانانو تر منځ د یووالي هڅونکې ________ ژباړن: استاد قریب الرحمن سعید
- د ډیورنډ ترون د حقوقو او سیاست په تـــله کښې ________ لیکوال: ډاکتر رحمت ربی زیرکیار
- د تاریخ او سیاست د برخې د نورو آثارو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **بېلابېل آثار :**

- خوندور خواړه ________ عبدالستار فیضي
- د نړۍ اووه عجایبې ________ ژباړن: مختار احمد احسان
- د بېلابېل آثار نومې برخې د نورو پر لیکه کتابونو د لوست لپاره دلته کلیک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**